ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت

د عامه اطلاعاتو او نشراتو رياست

# ټرانسپورټ او هوايي چلند

مجله

علمي ‹ معلوماتي ‹ فرهنګي



پرله‌پسې ۲۰ ګڼه

د ۱۴۰۴ کال درېيمه

## د افغانستان پر ټرانزيټي لارو د تيرپارکونو جوړول

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْـحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِينَ۔ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ

عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِينَ۔ وَعَلٰى آلِهِ وَاَصْحَابِهِ اَجْمَعِينَ۔



بسم الله الرحمن الرحيم

له نشو څخه د مخنيوي او د روږدو کسانو د تداوي په هکله د عاليقدر امير المؤمنين حفظه الله حکم

گڼه: (۲۲۳۴)

نېټه: ۱۴۴۴/۷/۷ هـ.ق

دا چې د نشه يي توکو استعمال په تدريجي ډول د يوه انسان ژوند له گواښ سره مخ کوي، اسلامي نظام مکلفيت لري چې خپل وگړي له هر ډول نشو څخه راوگرځوي، د ټولو ولايتونو واليان دې په خپلو ولايتونو کې د نشه يي توکو د استعمال څخه د خلکو د مخنيوي په برخه کی لازم اقدامات وکړي، کوم خلک چې تر دې وړاندې په نشو روږدي دي، د هغوی لپاره دې داسې مرکزونه جوړ کړي چې د علاج اسانتياوې ولري او د تداوي لپاره دې په عاجله توگه اړين تدابير ونيسي.

والسلام

امير المؤمنين شيخ القرآن والحديث مولوي

هبة الله اخندزاده صاحب حفظه الله تعالى

# ټرانسپورټ او هوايي چلند
مجله

علمي ‹ معلوماتي ‹ فرهنګي

د ۱۴۰۴ل کال درېیمه، پرلپسې لسمه ګڼه


| | |
|---|---|
| امتیاز خاوند: | ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت |
| خپروونکی: | د عامه اطلاعاتو او نشراتو ریاست |
| مسئول مدیر: | نورالله غازي |
| کتنپلاوی: | مولوي محمد موسی غزنوي، مولوي راز محمد المظهري<br>احمد جاوید فیضي، سید جاوید محبوب<br>احسان الله سعادت مدني، حکمت الله آصفي، عزیز الرحمن فراجغاني |
| خبریالان: | عبدالحلیم حلیمي، مجیب‌الرحمن مشعل، فرمان‌الله ارشاد |
| عکس اخیستونکي: | روح الله هنرجو، محمد ایمل سمون |
| ډیزاینر: | عبدالغني افغان |
| پته: | انصاري واټ، ملي راډیو ټلویزیون ته څېرمه ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت |
| اړیکې شمېره: | ۰۲۰۲۹۲۳۲۹۶ (۹۳)+ |
| ایکسپاڼه: | DChlnd@ |
| ویبپاڼه: | www.mota.gov.af |


‹ یادونه: له سرلیکنې پرته د نورو لیکنو لیکوالانو د لیکوالانو پر غاړه دی. د مجلې له مقالو ګټه اخیستنه د سرچینې په یادولو سره جواز لري. ټرانسپورټ او هوايي چلند مجله د ټرانسپورټ او هوايي چلند اړوند هغو مقالو او مطالبو ته په خپلو پاڼو کې ځای ورکوي، چې بل ځای نه وي خپرې شوې.

# په دې ګڼه کې:


| | |
|---|---|
| ۱ | سرليکنه |
| ۲ | د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د قدرمن مقام لنډ پيغام! |
| ۳ | د افغانستان هوايي ډګرونه ( لړۍ ) |
| ۸ | د اسلامي نظام ارزښت |
| ۱۱ | د افغانستان پر ټرانزيټي لارو د تيرپاركونو جوړول |
| ۱۵ | اقليمي بدلون او د هوايي سفر نوې اندېښنې |
| ۱۷ | د هوايي ډګر د موقعيت ټاکلو معيارونه |
| ۱۹ | کړنې او لاسته‌راوړنې |
| ۲۱ | د سيمه‌ييزو ټرانسپورټي اړيکو پياوړتيا |
| ۲۳ | نقش دستگاه‌های پیشرفته در گسترش فعالیت‌های هواشناسی |
| ۲٤ | د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې د تيرپاركونو جوړېدل |
| ۲۷ | د هوايي چلند د اړيکو پراختيا او د زېربناوو پياوړتيا |
| ۲۹ | د زيربناوو پراختيا او د عصري مديريت پر لور ګام |
| ۳۰ | په هېواد کې د ټرانسپورټي نظم پراخېدل |
| ۳۲ | د درېيو مياشتو په موده کې د ځينو ترسره شويو غونډو، لېدنو او ... |
| ۳٦ | د هېواد په شمال کې د ابادۍ نوی څرک |
| ٤۰ | ايربس د شاوخوا شپږ زرو الوتکو د ببړني سمون اعلان وکړ |
| ٤۰ | په هانګ کانګ کې د کارګو الوتکې مرګونې پېښه |
| ٤۱ | په امريکا کې د يوې باروړونکې الوتکې نسکورېدل |



# په هېواد کې د تیرپارکونو او برېښنایي
# دروازو پراختیا

**سرلیکنه**

په افغانستان کې د ټرانسپورټي نظم پرمختګ او د لویو لارو تنظیم د هېواد په اقتصاد، سوداګرۍ او د هېوادوالو په ټولنیز ژوند کې بنسټیز رول لري. د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت له خوا د تیرپارکونو او برېښنایي دروازو جوړولو پراخه پروژې د همدې موخې لپاره پیل شوې دي، چې ټرانزیټي نظم وده وکړي او خلکو لپاره د خوندي او اسانه تګ راتګ زمینه برابره شي. تیرپارکونه په هېواد کې د باروړونکو وسایطو لپاره معیاري تمځایونه او موټرچلوونکو ته ارام او خوندي چاپیریال برابروي، تر څو د اوږدو لارو سفر په خوندي او ارام ډول ترسره شي. دغه پروژې چې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې ترسره کېږي، ټولې اړینې اسانتیاوې به ولري، چې له دې سره به د لویو لارو بې‌نظمي کمه او د ټرانسپورټي خدمتونو کیفیت به ورسره لوړ شي.

د دې تر څنګ برېښنایي دروازې یا ټولګېټونه د عصري ټرانسپورټي مدیریت یوه مهمه برخه ده، برېښنایي دروازې د نړیوالو معیارونو سره سمې د ټرانزیټي وسایطو د منظم کنټرول، د عوایدو راټولولو او د لارې د خوندیتوب لپاره خورا مهمې او اغېزمنې ګڼل کېږي. د هېواد په مهمو سیمو کې دا ډول پروژې د ټرانسپورټي نظم، اقتصادي ودې، سوداګریزو اسانتیاوو او د ټرانزیټي دهلېزونو په پیاوړتیا کې مهم رول لري.

د دغو زیربناوو پراختیا د هېواد پر سوداګرۍ او د ترانزیټ په پرمختګ مستقیمه اغېزه لري. منظم ټرانسپورټ د سوداګرو لپاره وخت او لګښت سپموي، د موټرو خوندیتوب رامنځته کېږي، د ترافیکي پېښو احتمال کمېږي او په ټولیزه توګه د خلکو ژوند ته خوندیتوب او هوساینه وربښي.

په ټوله کې د تیرپارکونو او برېښنایي دروازو جوړول د هېواد ټرانسپورټ عصري کولو او سوداګرۍ د ودې لپاره یو لوی بنسټیز ګام دی. د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت دا هڅې ښيي چې هېواد د منظم، خوندي او اغېزمن ټرانسپورټي نظام په لور ګامونه اخلي، چې د خلکو هوساینه، د سوداګرۍ پرمختګ او د چارو شفافیت ورسره رامنځته کېږي. د دغو پروژو په بشپړېدو سره به افغانستان د سیمې په کچه د باوري، معیاري او منظم ټرانزیټي مرکز په توګه راوړاندې شي.



# د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت

## د قدرمن مقام لنډ پيغام!

دا د الله ﷻ فضل و کرم دی، چې افغانستان ته يې داسې جغرافيه ورکړې ده، چې د همدې موقعيت له برکته د سيمې او نړۍ هېوادونو لپاره د ټرانزيټ او ټرانسپورټ يوه مرکزي دروازه ده. زموږ هېواد نه يوازې د خپلو ګاونډيو هېوادونو سره، بلکې د سيمې او نړۍ له نورو هېوادونو سره د سوداګرۍ، ټرانزيټ او ټرانسپورټي اړيکو د پراختيا لپاره بې سارې فرصتونه لري.
ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په دې وروستيو کې د سيمې هېوادونو سره د ټرانسپورټي او ټرانزيټي اړيکو د پياوړتيا لپاره پراخې هڅې کړې دي. زموږ ناستې او ليدنې ښيي چې د متقابل باور، تخنيکي همغږۍ او عملي اسانتياوو پر بنسټ د سيمه‌ييز ټرانسپورټ نوی فصل پرانيستل شوی دی. د سيمې او ګاونډيو هېوادونو سره پرلپسې ليدنې او ناستې دا څرګندوي چې افغانستان د سيمه‌ييز ټرانسپورټي اتصال د پياوړتيا لپاره فعال دی او ورځ تر بلې د پرمختګ پر لور ګامونه اخلي. همداراز د هوايي چلند سکتور هم د پام وړ پرمختګونه تجربه کړي دي. د هوايي ډګرونو د پراختيا چارې چټکې شوې دي او د همدې برخې کارکوونکو د تخصصي روزنې پروګرامونه زيات شوي دي. د سيمې او نړۍ د هوايي شرکتونو مستقيمې الوتنې په ډېرېدو دي.
دا پرمختګونه د مسافرو لپاره اسانتياوې زياتوي او د افغانستان نړيوال حيثيت او سيمه‌ييزه همکارۍ لا ورسره پياوړې کېږي .موږ هڅه کوو چې د باروړونکو موټرو، مسافرو او سوداګريزو توکو لپاره خوندي، اغېزمنې او اسانې لارې رامنځته کړو، تر څو سوداګري، ټرانزيټ او اقتصادي اړيکې پياوړې شي. د دغو اسانتياوو په رامنځته کولو سره افغانستان کولای شي، د ګاونډيو، سيمې او د نړۍ له هېوادونو سره خپل ټرانزيټ ته وده ورکړي او د باور وړ، مستحکم او دوامداره ترانزيټي شبکه رامنځته شي.
ګرانو هېوادوالو!
دا پرمختګونه د افغانستان د سيمه‌ييزو او نړيوالو اړيکو په پراختيا کې مهم او بنسټيز رول لري. موږ تل په هڅه کې يو، چې د افغانستان موقعيت د اسيا د زړه په توګه لا قوي کړو او دا هېواد د نړيوالې سوداګرۍ، ټرانزيټ او اقتصادي فعاليتونو لپاره د باور وړ مرکز وګرځوو.

**الحاج ملا محمد فاضل مظلوم**

**د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزير**

# د افغانستان

## هوايي ډګرونه

(لړۍ)



پرلپسې اوومه برخه

هوايي ډګرونه لرې پرتو سيمو ته د پرمختګ، اسانتياوو او چټک تګ راتګ دروازې پرانيزي. په دې پرلپسې اوومه برخه کې د افغانستان د څلورو محلي هوايي ډګرونو؛ د سلطان غياث‌الدين غوري، فيض‌اباد، غزني او جاغوري هوايي ډګرونو تاريخي مخينه، تخنيکي بدلونونه او اوسنی حالت تر بحث لاندې نيول شوی دی. دا هوايي ډګرونه له يوې خوا د ولايتونو ترمنځ د نښلونې وسيله ده، له بلې خوا د اقتصادي ودې، بېړنيو خدمتونو، امنيتي همکاريو او ټولنيز پرمختګ لپاره هم بنسټيز ارزښت لري.

# د سلطان غیاث‌الدین غوري
## هوايي ډګر

د سلطان غياث‌الدين غوري هوايي ډګر د بنسټ ډبره په ۱۳۴۶ل کال کې د هماغه وخت دولت لەخوا کېښودل شوه او په ۱۳۴۹ل کال کې یې چارې پای ته ورسیدې. په لومړیو کې د دې هوايي ډګر ځغاستلیکه خامه وه، چې اوږدوالی یې ۷۰۰متره او پلنوالی یې ۳۰ متره و. چې د باختر افغان هوايي شرکت کوچنیو الوتکو ترې الوتنې پیل کړې او غور ولایت یې د هېواد له پلازمینې او نورو لویو ولایتونو سره ونښلاوه.

### د پرمختګ او پراختیا پړاوونه

د سلطان غیاث‌الدین غوري هوايي ډګر، چې فیروزکوه ښار ختیځ لور ته په شاوخوا ٦۴۰ زره مربع متره ځمکه جوړ شوی دی، په ۱۳۵۲ل کال یې د پراخېدو کار پیل شو او د ځغاستلیکې اوږدوالی یې ۲۰۰۰ متره او پلنوالی یې ۳۵ متره شو. په هماغه وخت کې د ( یاک ۴۰، N۲٦ او N۳۲ ) ډوله الوتکو الوتنې هم ترې پیل شوې، چې د هېواد د خاورینو هوايي ډګرونو له ډلې لومړنی داسې هوايي ډګر و، چې د ۷ تر ۸ مترو د لید ساحې په درلودو سره یې د کورنیو الوتنو وړتیا درلوده.

له څو لسیزو وروسته په ۱۳۸۸ل کال د دې هوايي ډګر اساسي کار پیل شو، خامه ځغاستلیکه یې پخه او په همدې پړاو کې ورته یو کوچنی ترمینل، چې سل کسان پکې ځایېږي،کنټرول برج، د اوروژنې (اطفایې) سټېشن، تخنیکي ورکشاپونه، فامیلي استوګنځایونه، ۸۵ متره ټکسوې، پارکینګ او اداري ودانۍ د جوړېدو کار هم بشپړ شو. دا پروژه د ۱۱ میلیونه امریکایي ډالرو په لګښت د ۱۳۹۰ کال د وږي په لسمه نېټه پای ته ورسېده.

### د هوايي ډګر اوسنی حالت

د هوايي ډګر امنیت د سرحدي پولیسو لەخوا تأمینېږي، چې د اسلامي امارت د عالي مقام په منظورۍ د ۵۸ کسانو په تشکیل فعالیت کوي. په دې وروستیو کلونو کې پکې امنیتي ودانۍ او یو جومات پر جوړېدو کار روان دی، چې چارې یې تر ډېره بشپړې شوې دي. د دې هوايي ډګر د فعالیت له پیله تر اوسه سلګونه الوتنې ترسره شوې دي او اوس هم هره اونۍ ترې تر اتو یا لسو پورې الوتنې کېږي.

د غور ولایت اوسېدونکي د دې هوايي ډګر له جوړېدو سره د هېواد له نورو سیمو سره وتړل شول. له دې هوايي ډګر څخه د ملکي او سوداګریزو الوتنو تر څنګ د خیریه موسسو، نړیوالو سازمانونو او  د دې تر څنګ د افغانستان د هوايي ځواکونو د نظامي الوتنو ناستې او الوتنې هم ترسره کېږي.

له تخنیکي وسایلو څخه په دې هوايي ډګر کې د VSAT د الوتکو د لارښوونې سیستم، د هوا پېژندنې اتومات دستګاه او همدارنګه VHF، UHF، HF مخابراتي وسایل فعاله دي.

د ځغاستلیکې د بیارغونې پروژه د تدارکاتي پړاو په وروستیو کې ده او ډېر ژر به یې د عملي کار چارې پیل شي. د دې ترمیم سره به د یاد هوايي ډګر د الوتکو د ناستو او الوتنو خوندیتوب، اسانتیاوې او ظرفیت نور هم لوړ شي.

# غزني

# هوايي ډګر

غزني هغه تاریخي ښار دی چې د نړۍ د اسلامي تمدن پلازمېنه بلل کېږي او پخوانیو لارو کې یې تل مهم ځای درلود. د دې ولایت د اتصال، اقتصادي او ټولنیز بدلون لپاره په دې تاریخي ښار کې هوایي ډګر ډېر مهم ارزښت لري. د غزني هوايي ډګر د دې ولایت او سیمې لپاره مهمه دروازه ده، چې د هېوادوالو د تګ راتګ، اقتصادي ودې، بېړنیو مرستو او امنیتي همکاریو لپاره هم یو اغېزمن ځای ګڼل کېږي.

## د جوړېدو لومړۍ مرحلې

د غزني هوایي ډګر د جوړېدو کار په رسمي ډول د ۱۳۹۱ کال د وري/حمل پر ۲۳مه د غزني له مرکز څخه ۱۰ کیلومتره لرې، د ده یک ولسوالۍ په سیمه کې پیل شو. د پروژې لومړۍ برخه د احاطوي دیوال څخه پیل شوه، چې ټول اوږدوالی یې ۴.۵ او پلنوالی یې ۱.۵ کیلومتره دی. د دې احاطوي دیوال د جوړولو لګښت له ۷۰۰ زره ډالرو څخه ډېر اټکل شوی وو، چې د هغه وخت د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت له بودیجې څخه تمویلېده.
د پروژې پلان داسې و چې د احاطوي دیوال تر بشپړېدو وروسته به د ترمینل، ځغاستلیکې او نورو اړینو برخو د جوړولو چارې پیل شي او تر ۲۰۱۳ کال پورې به بشپړ شي، تر څو د هغه کال د "غزني د اسلامي تمدن پلازمېنې" د نړیوال جشن لپاره چمتو وي.
یاد هوایي ډګر په ۱۳۹۲ کال کې د ۲۲۲۵ جریبه پراخې ځمکې باندې جوړ شو. تر ټولو مهم فزیکي جوړښتونه چې په لومړۍ مرحله کې بشپړ شول، د ۲۲۰۰ مترو په اوږدوالي او ۴۵ متره پراخه خامه جغلي ځغاستلیکه، ټکسوې، رمپ، یو متر لوړ د ډبرو دیوال او دوه مترو په لوړوالي فېنس موجود و. دا لومړني کارونه د دې لپاره وو چې دا هوايي ډګر د ناستو او الوتنو لپاره لومړنی بنسټ پیدا کړي او د راتلونکو پراختیایي پلانونو لپاره چمتو شي.

## له فتحې وروسته پرمختګونه

د اسلامي امارت له راتګ او له فتحې وروسته د غزني هوایي ډګر چارې یو ځل بیا فعاله شوې او مهمو برخو ته پاملرنه زیاته شوه، چې په دې لړ کې د ټکسوې ۷۰۰ متره مربع برخه کانکریټ شوه، ۱.۵ کیلومتره سړک د سره صلیب موسسې په همکارۍ جغل‌اندازي شو، د ډګر دننه پر یوه نهر د اوبو د تګ راتګ لپاره پُل جوړ شو او د سرحدي پولیسو د کنډک د ودانۍ جوړولو کار پیل شو. دغه ټول پرمختګونه څرګندوي چې د هوایي ډګر د فعالېدو او د خدمتونو د ښه کېدو لپاره اساسي او بنسټیز ګامونه پورته شوي دي.

## اقتصادي او ټولنیز ارزښت

غزني یو ستر نفوس لرونکی ولایت دی، چې د کابل او کندهار تر منځ پر لویه لار پروت دی او د همدې جغرافیوي موقعیت له امله د دې ولایت لپاره معیاري هوایي ډګر د اقتصادي پراختیا راولي، سوداګرو لپاره د لاسرسي نوي فرصتونه رامنځته کوي، واردات او صادرات اسانه کوي، په بیړنیو حالاتو کې د ناروغانو لېږد، د مرستو رسېدل او امنیتي همکارۍ ورسره چټکې کېږي، د ګرځندویۍ او کلتوري ارزښت له پلوه د غزني د اسلامي تمدن د پلازمېنې په توګه د شهرت له امله د بهرنیو سیلانیانو د راتګ امکانات زیاتوي او د غزني سره په خوا کې ولایتونو لپاره هم ګټور تمامیدلی شي.
سره له دې چې غزني هوایي ډګر لا تر اوسه بشپړ معیاري او سوداګریزو الوتنو ته نه دی پرانیستل شوی؛ خو د وروستیو کلونو پرمختګونه دا څرګندوي چې د دې ډګر د بشپړې فعالېدو لپاره قوي بنسټ اېښودل شوی دی.

# جاغوري
## هوايي ډګر

د غزني ولايت د جاغوري هوايي ډګر چارې لومړی ځل په کال ۱۳۸۹ل کې د شاوخوا ۷۰۰ زره ډالرو په بودیجه پیل شوې. وروسته په ۱۳۹۲ل کال دغه پروژه، چې د جاغوري ولسوالۍ له ختیځ او غجور بازار له شمال سره نږدې موقعیت لري، د ۳۳۰ جریبه ځمکه کې یې چارې پیل شوې.

دغه هوايي ډګر د لومړي پلان له مخې د ۷۵۰ مترو په اندازه ځغاستلیکې، ترمینل او چاپېره د ډبرو د دېوالونو لرلو لپاره طرحه شوی و. بیا په ۱۳۹۶ کال کې یې د ځغاستلیکې اوږدوالی ۱۲۰۰ متره او پلنوالی یې ۳۰ مترو ته ورسول شو، چې عموماً د کوچنیو الوتکو، د مؤسساتو او خیریه بنسټونو الوتنو لپاره کارول کېدای شي.

خو له رغونې سره ـ سره د دې ډګر د تخنیکي ستونزو راپورونه رسنیو ته وړاندې شول. د ځايي چارواکو په وینا، د جاغوري هوايي ډګر ځینې برخې غیر معیاري جوړې شوې دي او ځغاستلیکه یې تر لازمې اندازې لنډه جوړه شوې ده، چې هماغه وخت پرې نېوکې هم وشوې او ځینې مشکلات راپورته شول، چې ګواکې بودیجه په اغیزمنه توګه نه ده لګول شوې او د ملي دفاع وزارت تخنیکي ټیم د معاینې پر مهال وړاندیز وکړ، چې د ځغاستلیکې اوږدوالی باید ۲۰۰ تر ۳۰۰ متره نور هم زیات شي، ځکه جاغوري په لوړ بحر کې موقعیت لري او د هوايي چلند د خوندیتوب لپاره د اوږدې ځغاستلیکې اړتیا ده.

جاغوري هوايي ډګر که څه هم د سیمې د خلکو لپاره مهم زیربنايي ارزښت لري، خو د نیمګړتیاوو د لرې کولو او د معیارونو د بشپړولو لپاره لا هم کار ته اړتیا لري. که د ځغاستلیکې د پراخېدو، پخولو او نورې تخنیکي ستونزې هوارې شي، نو دا هوايي ډګر به د غزني په جنوب لوېدیځ کې د هوايي تګ راتګ یو مهم مرکز وګرځي او د خلکو د تګ راتګ، سوداګرۍ او بیړنیو خدماتو کچه به ورسره ډېره ښه شي.

## فیض اباد
# هوايي ډګر

د فیض اباد هوايي ډګر د بنسټ ډبره په ۱۳۴۲ل کال کې کېښودل شوه، هغه مهال چې بدخشان ته کومه ځمکنۍ لاره نه وه جوړه شوې. دې هوايي ډګر په لومړیو کې یوه خامه ځغاستلیکه درلوده، په ۱۳۴۵ کال کې د ایکاو متخصص او افغان انجنیرانو له خوا د دې هوايي ډګر تخنیکي سروې بشپړه او د ۱۳۴۸ کال تر پایه د ۱۵۰۰ مترو په اوږدوالي او ۳۷ مترو په پلنوالي یو منظم هوايي ډګر رامنځته شو. په همدې وخت کې د باختر افغان هوايي شرکت الوتکو ترې لومړنۍ الوتنه ترسره کړه.

د پیاوړتیا پړاوونه

د غوبي له کودتا وروسته دا هوايي ډګر د شوروي اتحاد په تخنیکي مرسته د لویو الوتنو لپاره پراخ شو. د (AN-26 او Yak-40 ) ډوله الوتکو د ناستې لپاره د ۲۰۰۰ مترو په اوږدوالي او ۳۰مترو په پلنوالي پخه ځغاستلیکه جوړه شوه او څو لسیزې یې په همدې بڼه دوام وکړ.

په ۱۳۸۸ل کال د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت پرېکړه وکړه، چې دا هوايي ډګر په اساسي توګه ورغوي. نوې پخه ځغاستلیکه، ترمینل، د اوروژنې سټېشن، د هواپېژندنې مرکز او نور کارونه د ۱٦ میلیونو افغانیو په لګښت پکې ترسره شول، چې چارې یې په ۱۳۹۱ل کال کې بشپړې شوې.

له فتحې وروسته:

په وروستیو کلونو کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د پاملرنې له برکته دا هوايي ډګر بیا د پراختیا نوې مرحلې ته داخل شوی دی، چې په دې کې د ٦.٥ میلونو افغانیو په لګښت د ځغاستلیکې بیارغونه، لمریزه برېښنا لپاره د ٦٠ سولري تختو په لګونې سره د ۳۵ کیلو واټه برېښنا برابرول او اوس پکې د ۲٦ میلیونه افغانیو په لګښت ترې چاپېره دیوال د جوړېدو کار هم روان دی.

د دې ترڅنګ د کارکوونکو او مسافرو د عبادت لپاره یو ښکلی جومات د ارشاد، حج او اوقاف وزارت له خوا جوړېږي، چې ۳.۵ میلیونه افغانۍ لګښت پرې راځي او ډېر ژر به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د فیض‌اباد هوايي ډګر د ۲۰۰۰ مترو اوږده او ۳۰ مترو پراخه پخه ځغاستلیکه، د ۹۰ مترو اوږد او ٦٠ مترو په اندازه پراخ کانکریټي رمپ، فعال او په عصري وسایلو سمبال لري. د هوا پېژندنې، مخابراتو او اوروژنې عصري وسایل پکې فعاله دي او د دې تر څنګ د لمریزې برېښنا سیستم یې د دوامدار انرژۍ او روښنايۍ سرچینه ګرځېدلې ده او د ملکي او نظامي الوتنو لپاره یو فعال هوايي ډګر دی، چې د پکتیک، خیریه خصوصي شرکتونو او د افغان هوايي ځواکونو الوتکې هره اونۍ ترې شاوخوا لس الوتنې ترسره کوي.

بدخشان ولایت له دې هوايي ډګر پرته په خواهان، نُسي درواز، شغنان او کران و منجان کې محلي هوايي ډګرونه لري، چې له فتحې وروسته د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په ځانګړې پاملرنه د هغوی د بیا فعالېدو کار هم روان دی. تر څو د بدخشان خلک د هېواد د نورو برخو سره د هوا له لارې وتړل شي او دې سیمو ته لاسرسي اسان او د هېوادوالو تر څنګ بهرني ګرځندویان هم دې ښکلو او غرنیو سیمو ته سفر وکړي.

د امیرالمؤمنین حفظه‌الله د حکم له مخې به د فیض‌اباد هوايي ډګر د شمال لور ته ۵۰۰ متره پراخ شي، چې تخنیکي سروې یې روانه ده، له دې سره به د دې هوايي ډګر ظرفیت زیات او د سیمې د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ لپاره به یوه نوې دروازه پرانیزي.

د سلطان غیاث‌الدین غوري، غزني، جاغوري او فیض‌اباد هوايي ډګرونه د افغانستان د هوايي زېربناوو مهمې کړۍ جوړوي، چې هر یو یې د خپل جغرافیايي موقعیت له مخې ځانګړې ارزښت لري. که څه هم ځینې یې بشپړ فعال او معیاري شوي او ځینې نور لا هم د پراختیا او تخنیکي اصلاحاتو پړاو ته اړتیا لري؛ خو ټول په ګډه د هېواد د متوازن پرمختګ، د خلکو د اسانتیاوو، سوداګرۍ د پراخېدو او د ملي یووالي په ټینګښت کې مهم رول لوبولی شي.





# د اسلامي نظام

# ارزښت

مفتي عزیزالرحمن عزیزي

موږ په دې باور لرو، چې په اسلام کې د ژوند ټول اړخونه په پام کې نیول شوي او په بشپړه توګه دیني، عصري، نظامي او اقتصادي سپارښتنې لري، هېڅ یو اړخ یې ګونګ نه دی، ځینې چارې چې ګونګې ښکاري، هغه هم د انسانانو د ګټې او د وخت واکمنو د مصلحت پر بنا، چې خپل نظامي، اقتصادي او ټولنېزې چارې ښې پر مخ یوسي. ټول انسانان او په ځانګړې توګه واکمن او قاضیان به د اصولو، قوانینو او اساساتو د قرآن کریم په هغه سپېڅلي کتاب، نبوي احادیثو، فقهاوو پر کتابونو او قیاس پرېکړې کوي، دا هر څه نه یوازې د یو فرد، بلکې د ټولنې او نظام د ټینګښت، سوله‌ییز ژوند رامنځته کیدو لپاره تر سره کوي.

په اسلام کې له کوچني څخه تر لویانو، له ژویو څخه تر انسانانو، له ژوندیو څخه تر مړیو پورې لارښوونې او ښې تګلارې لري. له ظلم او استبداد څخه په جدي توګه مخنیوی کوي، په ښو امر او له بدو ژغورنه کوي، د اخلاقي روزنې، ښې تربیې او علمي پرمختګ هڅونه.

اسلام د ورورلۍ، صداقت، عدالت او په امانتدارۍ ټینګښت کوي، له زور، جبر او ظلم څخه دغه راز له بد اخلاقۍ، فحشا او هغه ننګونې چې د اسلامي شریعت پلي کولو کې خنډ جوړېږي، مخنیوی کړی او هغه څوک چې په اسلامي ټولنه کې فساد خپروي، غلا، قتل او یا نور ناوړه کړنې ترسره کوي باید په شرعي سزا ورسیږي، تر څو د نورو خلکو له پاره د عبرت وړ وګرځي. الله تعالی وایي:

وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيٰوةٌ يٰٓأُولِي الْأَلْبٰبِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ [سُورَةُ البَقَرَة :[ ۱۷۹]

ژباړه: ستاسې لپاره په قصاص کې ژوند دی، په کار ده چې له دې قانون څخه سرغړاوی ونه کړئ.

که څه هم په قصاص کې یو تن وژل کېږي، خو د نورو له پاره پکې ارام ژوند او ښه راتلونکی نغښتی دی.

اسلامي حکومت په جنايي جرمونو او د ټولنیزو ستونزو په راکمولو کې مهم رول لري. په ځانګړې توګه د هغو خلکو پر وړاندې چې په ځمکه کې فساد خپروي، اسلامي حکومت ته خنډونه جوړوي او یا ترې سرغړونه کوي د باغي په صفت پېژندل کېږي.خدای تعالی د باغیانو په اړه وایي:

فَإِن بَغَتْ إِحْدٰىهُمَا عَلَى الْأُخْرٰى فَقٰتِلُوا الَّتِى تَبْغِى حَتّٰى تَفِىٓءَ إِلٰىٓ أَمْرِ اللَّهِ ( الحُجرَات :[ ۹]

ژباړه: بیا که له هغو څخه یوه ډله پر بلې تېری وکړي، نو له تېري کوونکي (ډلي) سره وجنګېږئ، تر دې پوري چې هغوی د الله د حُکم خوا ته راوګرځي

د اسلام بنسټیز آرونه، د الهي قانون پلي کول، چې د حق او عدالت تضمین دی. د عدالت اصلي سرچینه لومړی د قرآن کریم احکام پر خپل ځان، بیا پر رعیت پلي کول ستره وجیبه ده؛ ځکه هغه لوی ذات فرمایي: إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ ژباړه: د فېصلې ټول واک د الله تعالی دی.
څوک چې د الله تعالی له حکم څخه سرغړونه کوي، هغوی د کافرانو، ظالمانو او فاسقانو له ډلې څخه ګڼل کېږي:
وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰٓئِكَ هُمُ الْكَٰفِرُونَ
وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰٓئِكَ هُمُ الظَّٰلِمُونَ
وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰٓئِكَ هُمُ الْفَٰسِقُونَ
ژباړه: کوم خلک چې د الله تعالی له نازل کړي قانون سره سمې فېصلې ونه کړي، همغوی کافران دي. دویم آیت کې همغوی ظالمان دي، درېیم آیت کې همغوی فاسقان دي.
نعمتونه په څو ډول دي، ځېنې فردي، ځېنې ټولنیز او عام وي.
یو غوره نعمت هغه اسلامي حکومت دی، چې په دې کې د ډېرو ستونزو او ناخوالو مخنیوی، دغه راز د ټولو ناوړه کړنو ژغوړنه کوي، عزتونه په کې خوندي وي د بو بل برتري به پر مادیاتو نه وي؛ بلکې پر پوهې، کمال او معنویاتو پورې به تړاو لري.
که چېرې نن ورځ د اسلامي حکومتونو نظامونه د غربي او کفري چتر لاندې د غلامۍ سیوري کې ژوند کوي، دا به د اسلامي نظام نیمګړتیا نه وي، چې له امله یې د اسلامي نظام هغه سپېڅلې او سپېنه لمن پرې داغي شي.
موږ به داسې ووایو چې دا د یو فرد او یا نظام خپله ستونزه وي، که چېرې د اسلامي نظام ناشکري وشي، هغه د کفري ډیمکراسۍ او جمهوري نظامونو تر چتر لاندې د هغوی په قیادت کې به بیا د فساد او غلامۍ شپې سبا کوي. د هیڅا حقوق به په کې خوندي نه ساتل کېږي، بلکې جاهل په عالم، ظالم په مظلوم، سارق به په مسروق او مفسد به په مصلح واکمني کوي، نیکان به له ناوړه خلکو له زور او جبر څخه کړېږي، فریاد به یې نه اوریدل کېږي، قاضي به غل وي، پرېکړې به د واکمنو او شتمنو په حق کې بنه په زغرده سره وي که څه هم قضا خورا ستر منصب دی، څومره چې صلاحیت لوړ دی دغه راز مسئولیت هم لوړ دی.
لکه په دې اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم روایت دی
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ : " مَنْ جُعِلَ قَاضِيًا بَيْنَ النَّاسِ فَقَدْ ذُبِحَ بِغَيْرِ سِكِّينٍ " .
(رواه ترمذي رقم الحديث ۲۳۰۸ )
ابو هریره رضی الله عنه وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: څوک چې د خلکو قاضي وګمارل شو، هغه پرته له چاړې حلال شو. بیا هم دا ځېنې قاضیان د خپل منصب او دین سره درغلي کوي، د ملت سترګې یوازې او یوازې قاضي ته وي هغه هم د مظلومانو او بې چاره ګانو په حق کې اوښان په بډه وهي.
یوه پرېکړه یې هم خدایې نه وي، بلکې مادي وي کله چې په یوه ټولنه کې ماده پرستي راوټوکېږي، معنویات تر پښو لاندې او بې عدالتي رامنځته شي او پر حقایقو سترګې پټېږي.
په اسلامي نظام کې د سوداګرو مالونه او سرونه خوندي وي، که څوګ یې مال غلا کوي په سارق سره پېژندل کېږي او که لوټې یې په قطاع طریق سره پېژندل کېږي، په شرعي حد سره په سزا رسېږي. هېڅ لېوه مېږې ته خوله نه شي اچولی، هر څوک به په ډاډمنه فضا کې د امن تر سیوري لاندې ژوند کوي.

غریب به په خپلې غریبۍ ویاړي، شتمن به پر خپلې شتمنۍ کې سخا کوي او د اړمنو خلکو لاسنیوی به کوي. که چېرې له اسلامي نظام ور اخوا نورو نظامونو ته سر ورښکاره کړو او ښه په دقیقه توګه یې وڅارو، له نظامي اړخه نېولې تر دیکتاتورۍ پورې، له اقتصادي اړخه یې نېولې تر سیاسي، ټول په دروغو او بې بنسټه خبرو ولاړ دي، د شتمنو حقوق په کې خوندي او له قانون څخه مستثناء دي هر قانون چې پلې کېږي هغه پر غریب او ناچاره وي ستره بېلګه یې تېر نظام و، چې د یو څو مافیایي کړیو له امله د تجارانو مالونه او شتمني په کې خوندي نه ول. سوداګر خپله شتمني نه شوای څرګندولی او په بازار کې پانګونه هم په زړه نا زړه توګه ترسره کېده. که چېرې یې له سرمایې څخه څوک خبر شوي وای، زامن یې ترې اختطاف کول، یا به یې په لاره کې لوټ کاوه. که به د یو تن سره ښه موبایل په لاس کې ولیدل شو نه یوازې موبایل یې ترې غلا کاوه، بلکې په همدې خپل موبایل پسې یې واژه. ډېرې داسې ناوړه پېښې رامنځته شوې چې تاریخ لیکونکي کې یې په لیکلو شرمیږي.
نن ورځ د اسلامي نظام له برکته سوداګر ښه په ډاډمنه فضا کې خپلې پانګونې کوي. د حکومت فریضه نه یوازې شریعت پلې کول دي؛ بلکې سوداګرو او د هېواد هر وګړي ته د ګټې زمینه برابرول هم ستره اړتیا ده. که چېرې یو څوک له لوږې څخه مړ شي د هغه د مرګ لامل پوښتنه به هم له هغه واکمن څخه کېږي.
لکه څرنګه چې د اسلامي حکومت ارزښت زیات دی، دغه راز مسئولیت یې هم خورا زیات دی تر ټولو مهم هغه د شریعت قوانین او حدود پلې کول، بیا د خپل رعیت غوښتنې پر ځای کول، د اړمنو لاسنیوی او له شتمنو څخه هغه شرعي زکات او عشر غونډول تر څو حکومتي بودیجه په عوایدو بسیا شي. دغه راز ملت ته د خدمت وړاندې کولو او زحمت په بدل کې حق راغونډولو سره بیت المال کچه لوړول، لکه د ټولګټو وزارت د ښاروالۍ ریاست او د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت چې په داسې لوړه کچه یې ځمکنۍ هډې او ترمینلونه رغولي، هوایي برخه کې یې هوایي ډګرونو کې اسانتیاوې چمتو کړې دي، تر څو هېوادوال او مسافرین په ښه توګه تګ راتګ وکړي او باروړونکي موټر په چټکۍ سره د مالونو لېږد رالېږد وکړي، سوداګري او اقتصاد ورسره وغوړېږي، تر څو د هېوادوالو په ژوند کې هوساینه راشي.
اسلامي نظام نه یوازې د انسانانو له پاره، بلکې د ټولو ژویو او حیواناتو له پاره ستر رحمت او د سر سیوری ده، د ناچارو او مظلومانو دفاع له پاره کلک ډال دی، د عزت او ناموس خوندي ساتنې غوره کلا ده د حقوقو ستره محکمه ده او د ټولو مؤمنانو لپاره ستر ځواک دی باید په ښه توګه یې ساتنه وشي.





# د افغانستان
# پر ټرانزيټي لارو د تيرپارکونو جوړول




افغانستان چې د سیمې هېوادونو په زړه کې پروت دی او د نړیوال ټرانزیټ لپاره یو طبیعي دهلېز بلل کېږي. د دې دهلېز له لارې د اسیا هېوادونه د ځمکې له لارې سره نښلول کېږي او په دې توله سیمه کې ورسره یو خوځنده سوداګریز بهیر پیلېږي. د دې ستر جغرافیایي امتیاز اغېزمن استعمال هغه وخت ممکن دی، چې ترانزیتي زېربناوې په ځانګړې ډول تیرپارکونه په معیاري ډول جوړ او فعال شي. تیرپارکونه د موټرو د تم کېدو تر څنګ د ټرانزیټ د نظم، خوندیتوب، اقتصاد او د نړیوال اعتبار بنسټ جوړوي.

## تیرپارک څه ته وایي او ولې مهم دی؟

تیرپارک (TIR Park) د هغو باروړونکو وسایطو لپاره ځانګړی، معیاري او ستراتیژیک تمځای دی، چې د نړیوال ټرانزیټ د TIR کنوانسیون په چوکاټ کې له یوه هېواد څخه بل ته مالونه لېږدوي او هغه ځانګړې ساحه ده، چې د درنو باروړونکو وسایطو لپاره د تم کېدو، کنټرول، خوندیتوب، اسانتیاوو او همغږې ټول خدمتونو پکې وړاندې کېږي.

تیرپارکونه عموماً د لویو لارو، بندرونو او د یوه هېواد د پولو په اوږدو کې جوړېږي، چې د موټرو د پارکینګ تر څنګ د تېلو پمپ، رستورانټ، دوکانونه، اطفایه، کلېنیک، انتظارځایونه، ورکشاپونه او نورې اړینې اسانتیاوې لري. تیرپارکونه د ټرانزیټي تګ راتګ د اسانولو، د وسایطو د نظم او د سوداګرو لپاره د اعتماد رامنځته کولو لپاره خورا ډېر ارزښت لري.

## اقتصادي او پراختیایي ارزښتونه

تیرپارکونه د هېواد د اقتصاد لپاره ډېر ارزښت لري، ځکه چې له دې څخه د تم کېدو او د امنیتي کنټرولي خدمتونو فیس، د وسایطو د ترمیم، تېلو، موټر وینځلو او نورو تخنیکي خدمتونو عاید او همدارنګه د رستورانتونو، دوکانونو او خدماتي مرکزونو له لارې په مستقیم ډول عاید ترلاسه کېږي. له بلې خوا د ټرانزیټ بهیر ورسره چټک کېږي، د وسایطو د بېځایه تم کېدو وخت راکمېږي او کلنی ټرانزیټي ظرفیت لوړېږي، چې دا هر څه د ټرانسپورټي شرکتونو باور زیاتوي او د نویو پانګونو لپاره زمینه برابروي او ورسره د تیرپارکونو جوړېدل په بېلابېلو برخو کې سلګونو کسانو ته کاري فرصتونه هم برابروي.



## مدیریتي او لوژستیکي اسانتیاوې

د تیرپارکونو له لارې د باروړونکو وسایطو حرکت منظمېږي او وسایط نور په سړکونو او ګمرکونو کې په بې نظمه ډول نه تم کېږي او د تم کېدو منظم سیستم رامنځته کېږي، د موټرو د کتار او نوبتونو مدیریت اسانه کېږي، پر ګمرکونو د ازدحام او ګډوډۍ مخه نیول کېږي او د پولیسو، ګمرک، د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت او امنیتي ارګانونو ترمنځ همغږي پیاوړې کېږي؛ همدارنګه دا پارکونه د وسایطو لپاره د لومړني کنټرول یو واحد مرکز برابروي، چې له امله یې ټرانزیټ له ګډوډۍ څخه منظم او سیستماتیک بهیر ته اوړي.

## امنیتي ارزښت

په ټرانزیټ کې امنیت او خوندیتوب ډېر مهم دی او په تیرپارکونو کې د محمولو د هر ډول لاسوهنې مخه نیول کېږي، د غیرقانوني لاسوهنې د مخنیوي لپاره جدي تدابیر عملي کېږي، د قاچاق او سرغړونو پر وړاندې اغېزمن کنټرول موجود وي او ۲۴ ساعته ډول څارنه د HD کمرې او CCTV سیستمونو له لارې ترسره کېږي. د دې ترڅنګ د پولیسو او امنیتي ارګانونو دوامدار حضور تضمین شوی وي؛ له همدې امله موټرچلوونکي په خوندي او باوري چاپېریال کې د استراحت امکان مومي، د بار د غلا خطر له منځه ځي او هغه ستونزې حل کېږي چې د ناامنو سړکونو او نامناسب تم ځایونو له امله رامنځته کېږي.

## خدماتي اسانتیاوې

تیرپارکونه د موټرچلوونکو او ټرانسپورټي شرکتونو لپاره معیاري او هراړخیز خدمات وړاندې کوي، چې پکې جوماتونه، پاک تشنابونه، رسټورانټونه، دوکانونه، د استراحت او خوب مناسب ځایونه، ورکشاپونه، تېل پلورنځایونه او د وسایطو د مینځلو ځایونه شامل دي او د دې تر څنګ انټرنېټ، وای‌فای او برېښنايي ثبت سیستمونه هم برابر وي. دا ټولې اسانتیاوې د دې لامل کېږي، چې موټرچلوونکی له فزیکي او ذهني فشاره خلاص او ټرانزیټي بهیر لا اغېزناک، خوندي او منظم پرمخ ولاړ شي.



## قانوني ارزښت او نړيوال معيارونه

د تيرپارکونو جوړېدل افغانستان د نړيوال واټ ټرانسپورټ سيستم له معيارونو سره برابروي؛ ځکه چې په دغو پارکونو کې د TIR Carnet کنټرول، د مهر و موم معاى (Seal Inspection)، برېښنايي ثبت او څارنه په بشپړ او معياري بڼه ترسره کېږي. دا چاره د IRU او UNECE له اصولو سره د هېواد ژمنتيا څرګندوي، د ټرانزيټي هېوادونو باور زياتوي، بېځايه جريمې راکموي او هغه مالي او وختي زيانونه کموي چې د ځنډ او تخلفونو له امله رامنځته کېږي.

## د دولت لپاره ستراتيژيکه ګټه

تيرپارکونه دولت ته دا امکان برابروي، چې د ټرانزيټي زنځير مديريت پياوړی کړي، د وسايطو د داخلېدو او وتلو کره او باوري احصايه ولري، د فساد د مخنيوي لپاره اغېزمن کنټرول رامنځته کړي، د ټرانسپورټ او ګمرکي ادارو مديريتي وړتيا لوړه کړي او د همدې کره معلوماتو پر بنسټ د راتلونکو ټرانزيټي پروګرامونو او ستراتيژيو لپاره دقيق او واقعي پلان جوړ کړي.

## له کندهاره تر اقينې۲۴ سترې پروژې

دا مهال د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې ۲۴ د تيرپارک پروژې د جوړېدو او يا بشپړېدو په حال کې دي؛ په کندهار، سمنګان، غزني، فراه، کندوز، هلمند، فارياب، کابل، نيمروز، جوزجان، پکتيا، پروان، لوګر، هرات، زابل، ميدان وردګ او بغلان ولايتونو کې ځينې پروژې د تيرپارکونو  او ځينې د احاطوي ديوالونو او اړوندو تاسيساتو د جوړولو برخه رانغاړي. د دغو پروژو ټوليز لګښت شاوخوا ۵۹۸,۹ ميليونه افغانۍ اټکل شوی، چې دا د ټرانزيټي زېربناوو په برخه کې د دولت جدي پانګونه او ژمنتيا ثابتوي.

د تيرپارکونه د افغانستان د ټرانزيټ د لا غوړيدا لپاره بنسټير اقدام ګڼل کېږي، ځکه چې دا پروژې امنيت زياتوي، چټکتيا او اسانتيا راولي، ملي عايد لوړوي، په ټرانسپورټ کې نظم رامنځته کوي، د نړيوالې سوداګرۍ ملاتړ کوي او افغانستان د نړيوالو معيارونو پر لور ګامونه اخلي او همدا تيرپارکونه د هېواد پر لويو لارو د نظم، باور او دوامدار پرمختګ څرګندې نښې دي.



# اقليمي بدلون او د هوايي سفر

## نوې اندېښنې

ژباړه او لنډيز

هوايي سفر ډېر ارزښت لري؛ خو کله چې فضا کې په ناڅاپي ډول ګډوډي رامنځته شي، مسافرو ته د سفر دا په زړه پورې شېبې د وېرې، ژورې اندېښنې او کله کله هم د ټپونو په دردناکو يادونو بدلېږي. تازه پېښې، علمي څېړنې او نړيوال راپورونه ښيي، چې د الوتکو پر وړاندې د خرابې هوا پېښې په زياتېدو دي او دا موضوع يوازې د پيلوټانو لپاره نه، بلکې د هغه چا لپاره هم د اندېښنې وړ ده، چې د هوا له لارې سفر کوي.

### د يوه مسافر له خولې

د ننداړتون د يوې پروژې مدير چې نيوزيلنډ ته روان و، د خپل سفر يوه برخه هېڅکله نه شي هېرولی او داسې وايي:

" له لندن څخه تر سينګاپوره پورې د الوتنې لومړۍ برخه ډېره ارامه تېره شوه؛ خو لږ وروسته الوتکې ناڅاپه جټکې وخوړې او له يو ډول ګډوډۍ سره مخ شوه... لومړی مې سر له څوکۍ سره ولګېد، بيا ښکته ولوېدم، قهوه راباندې توی شوه، هر څه ګډوډ شول، د الوتکې پر کابين ګډوډي جوړه شوې وه،... خلکو ژړل او وارخطا وو."

په همدې پېښه کې يو ۷۳ کلن سپين‌ږيری د زړه د حملې له امله ومړ او لسګونه نور مسافر ټپيان شول. دا يوه له هغو پېښو ده چې د سختې هوا له امله رامنځته شوې وه.

### د خرابې هوا ستونزه

رسمي شمېرې ښيي چې يوازې په امريکا کې له ۲۰۰۹ ز کال راهيسې ۲۰۷ کسان د خرابې هوا له امله سخت ژوبل شوي دي، چې ډېری يې د الوتنو عمله وه. په نړيواله کچه هر کال شاوخوا ۵ زره الوتنې د خرابې هوا له امله زيانمنېږي. دا د ۳۵ ميليونه الوتنو پرتله ممکن لږ وي؛ خو د خطر کچه ورځ تر بلې لوړېږي. په ځانګړې توګه د اقليم بدلون د دې ګډوډيو اصلي لامل ګڼل کېږي. د شمالي اتلانتيک فضا د څېړنو له مخې د سختې خرابې هوا پېښې هلته په تېرو ۴۰ کلونو کې ۵۵ سلنه زياتې شوې دي.

## د ګېوډۍ ډولونه

د الوتکو لپاره خرابه هوا معمولاً درې ډوله وي:

1. کنوېکټیف ګېوډي: له طوفاني ورېځو سره تړلې.
٢. اوروګرافیک ګېوډي: چې د غرنۍ هوا له بدلونونو راپیدا کېږي.
٣. د صافې هوا ګېوډي (Clear Air Turbulence) : تر ټولو خطرناکه؛ ځکه نه لیدل کېږي.

اقلیمي بدلون دېورته درېیو واړو شدت زیات کړی دی او د پاکې هوا ګېوډي بیا ورځ تر بلې ډېرېږي.

## علمي اټکلونه څه وایي؟

پروفېسور پال ویلیمز وایي:

"په راتلونکو لسیزو کې به د خرابې هوا شدت دوه یا درې برابره شي."

یعنې که اوس یوه الوتنه د ۱۰ دقیقو لپاره ګېوډېږي، دا موده به ښایي تر ۳۰ دقیقو هم زیاته شي.

ټکنالوژي او حل‌لارې

د الوتکو نوي راداري سیستمونه اوس له وړاندې توپانونه کشفولی شي. کمپیوټري سافټویرونه د الوتنو له پیل مخکې د خرابې هوا وړاندوینه کوي. مصنوعي ځیرکتیا (AI) اوس هڅه کوي له وړاندې څخه د پېښو وړاندوینه وړاندې کړي او نوې ځېرنې د الوتکو د وزرونو په جوړښت کې بدلونونه ازمایي، ترڅو د توپاني هوا فشارونه راکم کړي.

د اتریش یوه شرکت "Turbulence Solutions" داسې ټکنالوژي ازمایلې، چې وایي د کوچنیو الوتکو لپاره د ګېوډۍ خطر تر ۸۰ سلنه کمولی شي.

خرابه هوا او د مسافرو اندېښنه

د برېتانیې یوې سروې ښودلې، چې له هرو پنځو کسانو لویانو څخه یو کس له الوتنې وېرېږي، چې د خرابې هوا پېښې دا وېره نوره هم زیاتوي. مسافر وېنډي بارکر وایي: "فضا چې ګېوډه شي، د ستونزو او مرګ چانس ډېرېږي.» خو یو پخواني پیلوټ بیا د دې پروا نه لري او هغه داسې وایي: الوتکې ډېرې اغیز مننوکې دي. د وزرونو تاوېدنه یې توپانونه نشي ماتوولی."

## مالي زیانونه او چاپېریالي اغېز

هوایي شرکتونه له خرابې هوا سره د مبارزې لپاره هر کال تر ۱۰۵ میلیون پونډو پورې لګښت لري. د الوتنو ځنډ، د مسافرو غرامت، د الوتکو ترمیم او د لارو بدلونونه دا ټول لګښتونه زیاتوي. یوروکنټرول (Eurocontrol) چې د اقلیمي بدلون د خطر پېژندلو یو اروپایي سازمان دی، وایي، یوازې په ۲۰۱۹ز کال کې د خرابې هوا له کبله هوایي شرکتونه اړ شول چې یو میلیون کیلومتره اضافي الوتنه وکړي، چې له امله یې ۱۹ زره ټنه کاربن ډای‌اکسایډ فضا ته خوشې شوی دی.

## ایا اندېښنه پکار ده؟

کارپوهان وایي: د هوا خرابوالی به لا نور هم زیات شي؛ خو ټکنالوژي هم له ورځې نه بلې ته پرمختګ کوي. که مسافر همېشه کمربند وتړي او پیلوټان له دقیقو معلوماتو سره الوتنه وکړي، دا خطرونه به تر ډېره مهار شي. هوایي سفر لا هم تر ټولو خوندي سفر ګڼل کېږي، خو اقلیمي بدلون دا خوندیتوب له نویو ننګونو سره مخ کړی دی.

# د هوايي ډګر
## د موقعیت ټاکلو معیارونه



د هوايي ډګر د موقعیت ټاکنه د هوايي ټرانسپورټ د بنسټیزو او ستراتیژیکو پریکړو له جملې څخه ده، چې د الوتنو د خوندیتوب، عملیاتي موثریت او دوامداره پرمختګ سره مستقیم تړاو لري. د موقعیت ناسم انتخاب کولای شي د الوتنو پر خوندیتوب (مصؤنیت) منفي اغېز وکړي، د جوړونې او ساتنې لګښتونه زیات کړي او پر چاپېریال او انساني استوګنځایونو ناوړه پایلې ولري. له همدې امله، د هوايي ډګر د موقعیت ټاکنه باید د علمي څېړنو، تخنیکي ارزونو او نړیوالو معیارونو پر بنسټ ترسره شي، تر څو ټول اړوند فزیکي، اقلیمي او ټولنیز عوامل په هراړخیز ډول په پام کې ونیول شي.

له جغرافیايي پلوه، د هوايي ډګر موقعیت باید په داسې سیمه کې وټاکل شي، چې د ځمکې توپوګرافي یې تر ډېره هواره او له طبیعي خنډونو پاکه وي؛ ځکه طبیعي موانع د الوتکو د ناستې او پورته کېدو پر مسیرونو منفي اغېز کوي او د خوندیتوب کچه راټیټوي. همدارنګه د ځمکې لوړوالی له سمندر څخه د هوا پر کثافت اغېز لري؛ په لوړو ارتفاع لرونکو سیمو کې د هوا د کثافت کموالی د الوتکو د پورته کېدو واټن زیاتوي، چې له امله یې ځانګړې تخنیکي تدابیر او اوږدې ځغاستلیکې اړینې دي. د زلزلو، ځمکې ښویېدو او نورو طبیعي پېښو احتمال هم باید د جغرافیايي ارزونې په بهیر کې په جدي ډول وڅېړل شی.

اقلیمي او چاپېریالي شرایط د هوايي ډګر د دوامداره فعالیت لپاره حیاتي ارزښت لري. د تودوخې منځنۍ کچه، د اورښت اندازه، واوره، دوړې، وربځ او لید هغه اقلیمي فکتورونه دي چې د الوتنو پر مهالوېش او خوندیتوب اغېز لري. هغه سیمې چې په دوامداره ډول د سختو اقلیمي شرایطو لکه شدیدو توپانونو، اوږدمهاله ورښت یا سختې یخنۍ سره مخ وي، د هوايي ډګر لپاره تر ډېره حده مناسبې نه ګڼل کېږي. سربېره پر دې د هوايي ډګر د موقعیت ټاکنه باید د طبیعي ایکو سیستم، مرغانو او وحشي ژوو پر ژوند د اغېزو له پلوه په علمي او احتیاطي ډول وارزول شي.

د شور او هوا ککړتیا نه یوازې دا چې د انساني استوګنځایونو لپاره جدي ستونزې رامنځته کوي، بلکې د چاپېریال ساتنې له اصولو سره هم ټکر لري؛ نو ځکه د چاپېریالي اغېزو تحلیل او ارزونه د هوايي ډګر د موقعیت ټاکلو په بهیر کې یو اساسي او علمي پړاو بلل کیږي، چې موخه یې د طبیعي او انساني چاپېریال د احتمالي زیانونو مخنیوی او کمول دي.

د باد تحلیل د هوایي ډگر د موقعیت ټاکلو له تخنیکي پلوه تر ټولو مهم معیار گڼل کېږي. د باد لوری، سرعت او موسمي بدلونونه د الوتکو د ناستې او پورته کېدو پر خوندیتوب مستقیم اغېز لري. د اصولو له مخې، د ځغاستلیکو لوری باید د سیمې د غالب باد له لورې سره سم تنظیم شي، څو الوتکې د مخامخ باد څخه پوره گټه واخلي.

همدا راز هوایي ډگر باید په داسې سیمه کې موقعیت ولري، چې د راتلونکې پراختیا لپاره کافي اندازه ځمکه موجوده وي او د ښاري ودې له اوږدمهاله پلانونو سره همغږي ولري. د استوگنیزو، صنعتي او کرنیزو سیمو ترمنځ مناسب توازن باید وساتل شي، تر څو د هوایي ډگر فعالیت د خلکو پر ورځني ژوند منفي اغېز ونه لري او د هوایي ډگر شاوخوا د ودانیو لوړوالی، د ځمکې کارونه او د شور حساس تاسیسات باید په علمي ډول تنظیم شي.
د هوایي ډگر د موقعیت ټاکل یو څو اړخیز، منظم بهیر دی چې جغرافیایي، اقلیمي، چاپېریالي، تخنیکي او ټولنیز معیارونه پکې په متقابل ډول ارزول کېږي. د دغو معیارونو پر بنسټ سمه پرېکړه نه یوازې د الوتنو خوندیتوب او موثریت پیاوړی کوي، بلکې د هوایي ډگر د دوامداره پرمختگ او د ټولنې د هوساینې لپاره هم قوي بنسټ جوړوي.

ترتیب‌کوونکی: حمیدالله « بارکزی» (د احمد شاه بابا نړیوال هوایي ډگر د هوایي ترافیکو د څار برج فني غړی).








# کړنې او لاسته‌راوړنې

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د ۱۴۰۴ل کال په درېيمه ربع کې چې کومې کړنې او لاسته‌راوړنې ترسره شوې دي، ځينې يې دلته لوستلی شئ!






- د سیمه‌ییزو ټرانسپورټي اړیکو پیاوړتیا
- نقش دستگاه‌های پیشرفته در گسترش فعالیت‌های هواشناسی
- د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د تیرپارکونو جوړېدل
- د هوايي چلند د اړیکو پراختیا او د زېربناوو پیاوړتیا
- د زېربناوو پراختیا او د عصري مدیریت پر لور گام
- په هېواد کې د ټرانسپورټي نظم پراخېدل
- د درېیو میاشتو په موده کې د ځینو ترسره شویو غونډو، لیدنو او کړنو لنډ خبرونه.
- د هېواد په شمال کې د ابادۍ نوی ځرک

# د سیمه‌ییزو ټرانسپورټي اړیکو پیاوړتیا

په داسې حال کې چې افغانستان د سیمې د ټرانزیټي وصل نقطې په توګه خپل رول بېرته احیا کوي، د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د ګاونډیو او سیمه‌ییزو هېوادونو سره د ټرانسپورټي او ټرانزیټي اړیکو د پراختیا په موخه د خبرو اترو او لیدنو لړۍ چټکه کړې ده. وروستۍ ناستې او لیدنې ښیي چې د متقابل باور، تخنیکي همغږۍ او عملي اسانتیاوو پر بنسټ، د سیمه‌ییز ټرانسپورټ نوی فصل پرانیستل کېږي.





## د قرغزستان واټ ټرانسپورټ معین سره لیدنه

د واټ ټرانسپورټ معین الحاج ملا عبدالسلام حیدري، کابل کې د قرغیزستان هېواد د واټ ټرانسپورټ له معین الماس تورگون‌بویف (Almaz Turgunbaev) سره وکتل. په دې لیدنه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د ټرانسپورټي او ټرانزیټي اړیکو د پراختیا، د بار وړونکو موټرو د فعالیت د زیاتوالي او په دې برخه کې د اسانتیاوو د رامنځته کولو پر څرنگوالي خبرې وشوې. همدارنگه د ټرانسپورټي همکاریو د لا پراختیا په موخه د دواړو هېوادونو د تخنیکي ټیمونو د گډې ناستې پرېکړه هم وشوه، ترڅو عملي لارې چارې وڅېړل شي او لا گړندۍ کړای شي.

## د ایران په زاهدان کې له ایراني چارواکو سره ناسته

د نیمروز ولایت د واټ ټرانسپورټ تنظیم رئیس ملا محمد اقبال کلیم‌الله په مشرۍ، د اسلامي امارت د بېلابېلو ادارو د استازو په گډون، د ایران په زاهدان ولایت کې له ایراني چارواکو سره ناسته وشوه. د دې ناستې اصلي موخه د دواړو هېوادونو ترمنځ د ټرانسپورټي او ټرانزیټي اړیکو پراختیا وه. په دې لړ کې د ټرانسپورټي وسایطو د فعالیت، د مسافرو او سوداگریزو توکو د خوندي لېږد را لېږد او د اړینو اسانتیاوو د برابرولو پر موضوعاتو بحث او نظرونه تبادله شول.

## د فراه او ایران ترمنځ پر اسانتیاوو خبرې

په یوه بله مهمه ناسته کې د فراه ولایت د واټ ترانسپورت تنظیم رئیس مولوي سیداحمد ساجد، د فراه له والي او د بېلابېلو ادارو او سوداگرو له استازو سره یو ځای، د ایران له چارواکو سره د صفري سرحدي نقطې په سیمه کې وکتل. په دې ناسته کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د ټرانسپورټي او ټرانزیټي اسانتیاوو د رامنځته کولو، د مؤثرو همکاریو د پراختیا، د سوداگریزو فعالیتونو د اسانتیا، د سوداگریزو توکو د خوندي لېږد پر لارو چارو بحث وشو. له کابل څخه تر زاهدان او تر صفري سرحدي نقطې پورې دا لیدنې او ناستې څرگندوي چې افغانستان د سیمه‌ییز ټرانسپورټي اتصال د پیاوړتیا لپاره پر فعاله ډیپلوماسي، تخنیکي همغږۍ او عملي اسانتیاوو تمرکز کړی دی. د دغو هڅو دوام به د باروړونکو موټرو تگ راتگ اسانه او د سوداگرۍ، ټرانزیټ او اقتصادي اړیکو لپاره به یو باثباته او باوري چوکاټ رامنځته کړي.



# نقش دستگاه‌های پیشرفته
# درگسترش فعالیت‌های هواشناسی

هواشناسی به‌عنوان یکی از ارکان اساسی در تامین مصؤنیت پروازها، مدیریت و پیش‌گیری از خطرات طبیعی و برنامه‌ریزی‌های توسعه‌ای، جایگاه خاص در ساختار ترانسپورت و هوانوردی افغانستان دارد.


ریاست هواشناسی وزارت ترانسپورت و هوانوردی در سال‌های اخیر با رویکرد مسلکی و مبتنی بر سیستم‌های تکنالوژی نوین، گام‌های موثری در راستای ارتقای سیستم‌های هواشناسی و پیش‌بینی دقیق و به موقع از وضعیت آب‌وهوا برداشته است. در ادامه این فعالیت‌ها ریاست هواشناسی در میادین هوایی میمنه، کندز، غزنی و زابل دستگاه‌های پیشرفته و خودکار هواشناسی را نصب و فعال کرده است. این دستگاه‌ها قادر اند معلومات دقیق اوضاع جوی، میزان بارندگی، درجه حرارت، رطوبت، سرعت و سمت باد و فشار هوا را به‌گونه خودکار ثبت و تحلیل نمایند. اطلاعات به‌دست‌آمده از این دستگاه‌ها، نقش کلیدی در پیش‌بینی دقیق وضعیت آب‌وهوا و تأمین مصؤنیت پروازهای ایفا می‌کند. همچنان، در میدان هوایی بین‌المللی مولانا جلال‌الدین محمد بلخی نیز یک پایه دستگاه پیشرفته هواشناسی نوع (RK) نصب و فعال شده است که با معیارهای بین‌المللی هوانوردی مطابقت داشته و ظرفیت فنی میدان هوایی را در بخش مدیریت شرایط جوی به‌گونه چشم‌گیر ارتقا داده است. در کنار توسعه زیربناهای تخنیکی، توجه به ارتقای ظرفیت نیروی انسانی نیز از اولویت‌های اساسی ریاست هواشناسی شمرده می‌شود. این ریاست به‌هدف ارتقای ظرفیت تخنیکی و مسلکی محصلان دیپارتمنت میترولوژی و اکمال پرکتیک دوره دو ساله آنان، یک پایه استیشن جدید هواشناسی را در انستیتوت هوانوردی ملکی ایجاد و فعال کرده است. در کنار فراهم‌شدن آموزش‌های عملی برای محصلان از اطلاعات و ارقام جمع‌آوری شده در این استیشن، ریاست هواشناسی نیز استفاده خواهد کرد.

برگزاری سمینارهای آموزشی تخصصی از دیگر اقدامات مهم این ریاست شمرده می‌شود که در پی آن سمینارهای آموزشی ده روزه و شش روزه را برای کارمندان جدیدالتقرر در ولایات و کارکنان این بخش برگزار کرده که در آن موضوعات تجهیزات هواشناسی، فورکاست، GIS، پیش‌بینی سیلاب‌ها، خشک‌سالی و تغییرات اقلیمی به گونه عملی آموزش داده شد. مجموع این تلاش‌ها نشان‌دهنده تعهد جدی وزارت ترانسپورت و هوانوردی در راستای معیاری‌سازی سیستم هواشناسی کشور، کاهش خطرات ناشی از پدیده‌های جوی و فراهم‌سازی بستر مصؤن برای فعالیت‌های هوانوردی و توسعه پایدار است؛ رویکردی که می‌تواند نقش مهمی در رشد اقتصادی، حفاظت از جان شهروندان و مدیریت بهتر منابع طبیعی ایفا کند.

تهیه‌کننده: عزیرالرحمان فراجغانی




# د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د تیرپارکونو جوړېدل





په هېواد کې د ټرانسپورټي نظم، ترانزيټي اسانتياوو او سوداګريزې ودې او پراختيا په موخه، د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت له خوا د تيرپارکونو جوړولو پراخه لړۍ پيل شوې ده، چې له شماله تر سوېله او له لوېديځه تر مرکزي ولايتونو پورې، ګڼې ستراتيژيکې سيمې تر خپل پوښښ لاندې نيسي. دا تيرپارکونه د منظم ټرانسپورټ، خوندي تګ راتګ او اقتصادي ثبات لپاره بنسټيز ګام بلل کېږي.

## سمنګان ولایت تاشقرغان د نو اباد سیمې تیرپارک

د سمنګان ولایت د تاشقرغان نواباد سیمه د تیرپارک له نوې پروژې سره ټرانسپورټي اسانتیا رامنځته کېږي. دلته پر ۱۰۵ جریبه ځمکه د څه باندې ۱۴ میلیونه افغانیو په ارزښت د تیرپارک د جوړولو چارې پیل شوې دي. په دې پروژه کې نږدې ۲ زره متره اوږد چاپېره دېوال، اداري ودانۍ، د ساتونکو لپاره د اوسېدو خونې او نور اړین تاسیسات شامل دي. دا پروژه به د ۸ میاشتو په موده کې بشپړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

## کندوز ولایت چهاردرې د نواباد سیمې لوی تیرپارک

کندوز چې د شمال له مهمو ټرانزیټي ولایتونو څخه شمېرل کېږي، د تیرپارکونو له پلوه ورته ځانګړې پاملرنه شوې ده. د چهاردرې ولسوالۍ د نواباد په سیمه کې پر ۴۰۰ جریبه ځمکه د ۲۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د تیرپارک پروژه پیل شوې. دا پروژه د چاپېره دېوال، اداري ودانۍ، د اوبو رسولو سیسټم او د نورو تاسیساتو لرونکې ده، چې چارې به یې د ۸ میاشتو په موده کې بشپړې شي.

## د جوزجان ولایت مرکز شبرغان د خراسان پل سیمې تیرپارک

د جوزجان ولایت د مرکز شبرغان د خراسان پل په سیمه کې د ۱۸ میلیونه او ۵۰۰ زره افغانیو په ارزښت د تیرپارک جوړولو چارې پیل شوې. دا پروژه به د یو کال په موده کې بشپړه شي او د شبرغان د ټرانسپورټي ظرفیت په لوړولو کې به مهم رول ولوبوي.

## د فاریاب ولایت دولت‌اباد سیمې تیرپارک

د فاریاب ولایت په دولتاباد ولسوالۍ کې د ۱۴ میلیونه او ۴۰۰ زره افغانیو په ارزښت د تیرپارک جوړولو پروژه پیل شوې ده. دا پروژه هم د یو کال په موده کې بشپړېږي او د سیمې د باروړونکو موټرو لپاره به منظم او خوندي تمځای برابر کړي.

## د نیمروز ولایت زرنج ښار ډاکو سیمې تیرپارک

نیمروز، چې د هېواد له مهمو ترانزیټي دروازو څخه دی، د تېرپارکونو په برخه کې تر ټولو ستره پروژه لري. د زرنج ښار د ډاکو په سیمه کې، پر ۶۲۵ جرېبه ځمکه د ۳۵ میلیونه او ۵۰۰ زره افغانیو په ارزښت د تېرپارک د جوړولو چارې پیل شوې دي. دا پروژه د نیمروز د ستراتیژیک موقعیت له امله ځانګړی اهمیت لري او چارې به یې د یو کال په موده کې بشپړې شي.

## د کندوز ولایت ابدان دښتې تیرپارک

د کندوز ولایت د ابدان دښتې په سیمه کې د باروړونکو موټرو لپاره د تیرپارک جوړولو چارې د څه باندې ۲۸ میلیونه افغانیو په ارزښت پیل شوې دي. دا تېرپارک پر ۴۰۰ جرېبه ځمکه جوړېږي او چارې به یې د اتو میاشتو په موده کې بشپړ شي.

## د فراه ولایت فرارود د دوراهي سیمې تیرپارک

د فراه ولایت د فراه‌رود ولسوالۍ د دوراهي په سیمه کې د ۳۴ میلیونه او ۴۷۹ زره افغانیو په ارزښت د معیاري تیرپارک جوړولو چارو روانې دي. دا تیرپارک پر ۳۰۰ جریبه ځمکه د یو کال په موده کې جوړېږي، چې جومات، د موټرچلوونکو د اوسېدو ځای، رسټورانټ او نور لازم تاسیسات پکې شامل دي. دا پروژه د فراه د سوداګریزې ودې لپاره مهم ګام بلل کېږي.

## د پروان ولایت سنجددرې سیمې تیرپارک

د پروان ولایت سنجددرې په سیمه کې د محلي مسئولینو په حضور کې، د ۲۴ میلیونه افغانیو په ارزښت پر ۲۸۳ جریبه ځمکه د معیاري تیرپارک د جوړولو چارې پیل شوې دي. دا پروژه به د یو کال په موده کې بشپړه شي، د موټرو او موټرچلوونکو لپاره به لازمې اسانتیاوې ولري.

## د نیمروز ولایت چخانسور دوراهي سیمې تیرپارک

د نیمروز ولایت د چخانسور ولسوالۍ دوراهي په سیمه کې د ۲۰میلیونه افغانیو په ارزښت پر ۲۰۰ جریبه ځمکه د تیرپارک جوړولو چارې پیل شوې دي. دا پروژه به هم د یو کال په موده کې بشپړه شي او د سیمې د ټرانزیټي بهیر د منظمولو لپاره به اغېزمن رول ولوبوي.

د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د تیرپارکونو دا پراخه لړۍ ښيي، چې ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د ټرانزیټي نظم، د سوداګرۍ اسانتیا او د موټرچلوونکو د هوساینې لپاره عملي او بنسټیز ګامونه پورته کړي دي. د دغو پروژو په بشپړېدو سره به د لویو لارو بې‌نظمي کمه شي او افغانستان به د سیمې په کچه د یو منظم او باوري ټرانزیټي دهلېز په توګه لا پیاوړی او منظم شي.






# د هوايي چلند د اړيکو پراختيا او
# د زېربناوو پياوړتيا

په وروستيو مياشتو کې د افغانستان د هوايي چلند سکتور د پام وړ بدلونونه او پرمختګونه تجربه کوي؛ داسې بدلونونه چې هم د نړيوالو هوايي اړيکو د پراختيا، هم د هوايي ډګرونو د زېربناوو د پياوړتيا او هم د بشري ظرفيت د لوړولو څرګند نښې بلل کېږي. د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت له‌خوا عملي شوي پروګرامونه او روانې پروژې ښيي چې دا سکتور په تدريجي ډول د معياري کېدو او پراخېدو پر لور روان دی. د دې پرمختګونو له ډلې يو مهم ګام، د ايران اسلامي جمهوريت د وارش هوايي شرکت له‌خوا د تهران - کابل د مستقيمو الوتنو پيل دی، چې په هره اونۍ به دوه الوتنې ولري. د دې نوې هوايي لارې په پرانيستل کېدو سره به نه يوازې مسافرو ته د سفر اسانتياوې زياتې شي، بلکې د افغانستان او ايران ترمنځ به د هوايي تګ راتګ کې لا پراختيا رامنځته شي، چې دا چاره د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړيکو د پياوړتيا مهم ګام بلل کېږي. له بلې خوا د هوايي ډګرونو د فزيکي زيربناوو د پراختيا په برخه کې هم د پام وړ کارونه ترسره شوي دي. د کندهار احمد شاه بابا نړيوال هوايي ډګر د جيولېټ رمپ او کانالونو د پراختيا پروژه، چې د څه باندې ۱۰۳ ميليونه افغانيو په لګښت پلې شوې وه، له بشپړېدو وروسته ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه. دا پروژه، چې شاوخوا يو کال يې وخت ونيو، د هوايي ټرانسپورټ د ظرفيت لوړولو او د هوايي ډګر د عملياتي فعاليتونو د ښه‌والي په برخه کې يو مهم پرمختګ ګڼل کېږي. د دې چارو تر څنګ د کارکوونکو د مسلکي کولو هڅې هم روانې دي. په کابل نړيوال هوايي ډګر کې د اطفايې څانګې ۳۵تنه کارکوونکي د ۱۴ ورځني تخصصي ښوونيز پروګرام تر بشپړېدو وروسته د فراغت تصديق‌نامې ترلاسه کړې. په دې روزنيز پروګرام کې د خطرونو د مخنيوي او مديريت په اړه مسلکي زده‌کړې ورکړل شوې، چې د هوايي خونديتوب د معيارونو د لوړولو لپاره خورا مهم بلل کېږي. په ورته وخت کې د خوست نړيوال هوايي ډګر کارکوونکو ته هم د هوايي چلند امنيت تر عنوان لاندې شپږ ورځنی ښوونيز سمينار وړاندې شو. په دې سمينار کې د هوايي خونديتوب، د خدماتو د کيفيت ښه والي او د هوايي ډګر د منظم مديريت اړوند موضوعات تر بحث لاندې ونيول شول.

په شمال کې د کندوز هوايي ډګر د ساتنې او پاملرنې په برخه کې هم عملي ګامونه اخيستل شوي دي. د څه باندې ۲ ميليونه افغانيو په ارزښت د ترمينل او جومات د بيارغولو او د اوروژنې وسايطو لپاره د سيوري ځای د جوړولو چارې روانې دي. دا هوايي ډګر، چې په اونۍ کې شاوخوا شپږ الوتنې د مرستندويه بنسټونو له‌خوا پکې ترسره کېږي، د دغو پروژو له بشپړېدو سره به د تاسيساتو ساتنه او د هوايي خدماتو کيفيت لا ښه شي.

په ټوله کې دا پرمختګونه ښيي چې د افغانستان د هوايي چلند سکتور په تدريجي ډول د معياري کېدو، خونديتوب او پراخې سيمه‌ييزې همکارۍ پر لور ګامونه اخلي؛ هغه بهير چې د مسافرو د اسانتيا، اقتصادي اړيکو او د هېواد د نړيوال حيثيت د پياوړتيا لپاره بنسټيز ارزښت لري.

# ارتقای ظرفیت نیروی
# تخنیکی و مسلکی

وزارت ترانسپورت و هوانوردی به‌عنوان نهاد مسئول تنظیم، توسعه و معیاری‌سازی سکتور ترانسپورت و هوانوردی کشور، همواره در راستای ارتقای ظرفیت‌های تخنیکی و مسلکی کارمندان، بهبود کیفیت خدمات ترانسپورتی و تامین مصؤنیت شهروندان و اموال تاجران، برنامه‌های آموزشی گسترده‌ای را برگزار کرده است. این وزارت با تمرکز بر عصری‌سازی سیستم‌های ترانسپورتی و تطبیق معیارهای ملی و بین‌المللی، تلاش می‌کند تا زیربناهای ترانسپورت جاده‌ای را تقویت و روند عرضه خدمات را معیاری سازد.

در همین راستا، ریاست خدمات تخنیکی و مصؤنیت وزارت ترانسپورت و هوانوردی به‌هدف ارتقای توانایی‌های تخنیکی و تقویت مهارت‌های مسلکی، برای کارمندان واحدهای دومی تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت‌های نورستان، ننگرهار، لغمان، خوست، کنر، پکتیا، لوگر و زابل سمینارهای آموزشی و معلوماتی برگزار کرده است.

در این سمینارها، موضوعاتی چون ارزیابی تخنیکی وسایط نقلیه، نصب و نظارت بر فعالیت دستگاه‌های ردیاب، تأمین مصؤنیت مسافران و اموال تاجران، همچنان چگونگی معیاری‌سازی وسایط ترانسپورتی مطابق طرزالعمل‌ها و معیارهای تعیین‌شده، به‌گونه جامع مورد بحث قرار گرفت و آموزش داده شد.

همچنان در جریان این برنامه‌های آموزشی، برای اشتراک‌کنندگان به‌صورت نظری و عملی معلومات مفصل در زمینه رشد، توسعه و عصری‌سازی ترانسپورت جاده‌ای ارائه شد.

این آموزش‌ها شامل معرفی و کاربرد سیستم‌های مختلف الکترونیکی در مدیریت و نظارت از فعالیت‌های ترانسپورتی، بررسی تخنیکی وسایط مسافربری و باربری، و تشریح روش‌های مؤثر نظارت از فعالیت‌های هده ها و ترمینل‌ها بوده است.

در کنار این، ریاست امنیت هوانوردی این وزارت، برای کارمندان میدان هوایی بامیان سمینار آموزشی پنج‌روزه را تحت عنوان «امنیت هوانوردی» برگزار کرد. در این دوره آموزشی برای اشتراک کننده درباره تأمین مصونیت هوانوردی، بهبود خدمات میدان‌های هوایی و برخی موضوعات مهم دیگر به‌طور عملی و نظری آموزش داده شد.

همچنان در چارچوب برنامه‌های ارتقای ظرفیت، وزارت ترانسپورت و هوانوردی سمینار آموزشی ۱۸ روزه را در ولایت کندهار برای کارمندان واحدهای دومی بخش‌های ترانسپورت جاده‌ای و هوانوردی زون جنوب غرب کشور شامل ولایت‌های زابل، کندهار، ارزگان و هلمند راه‌اندازی کرد.

این سمینار به هدف تقویت مهارت‌های مسلکی، بهبود عرضه خدمات ترانسپورتی و معیاری‌سازی فعالیت‌ها در بخش‌های ترانسپورت جاده‌ای و هوانوردی برگزار می‌شود و می‌تواند نقش مؤثری در ارتقای سطح خدمات و تأمین مصؤنیت ترانسپورتی در این زون داشته باشد.

تهیه‌کننده: عزیزالرحمان فراجغانی




# د زېربناوو پراختیا او

## د عصري مدیریت پر لور ګام

ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په هېواد کې د ټرانسپورټي او ټرانزیټي نظام د عصري کېدو، عوایدو د شفاف مدیریت او د لویو لارو د تنظیم په موخه، یو لړ بنسټیزې پروژې پیل کړې او پر روانو چارو یې جدي څارنه روانه ساتلې ده. دا هڅې د دې ښکارندویي کوي چې وزارت غواړي د معیاري، منظم او اغېزمن ټرانسپورټي سیستم لپاره قوي بنسټونه کېږدي. په همدې لړ کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د واټ ټرانسپورټ معین الحاج ملا عبدالسلام حیدري د کندهار ولایت د ځینو محلي چارواکو په حضور کې د کندهار سپین بولدک برېښنايي دروازې د جوړولو چارې په رسمي ډول پرانیستې. دا پروژه چې د عامه او خصوصي مشارکت له لارې د ۱۰۰ میلیونه افغانیو په ارزښت جوړېږي، د کندهار ولایت د تخته‌پُل ولسوالۍ په سیمه کې موقعیت لري. یاده برېښنايي دروازه به پر ۱۰ جریبه ځمکه د نړیوالو معیارونو مطابق د نهو میاشتو په موده کې جوړه شي. په دې پروژه کې مجهزه اداري ودانۍ، جومات، رسټورانټ، د وسایطو لپاره د تمځایونو او یو شمېر نورو اسانتیاوو جوړول شامل دي، چې موخه یې د ټرانسپورټي فعالیتونو ښه تنظیم، د موټرو د تګ راتګ کنټرول او د خدماتو معیاري کول دي. د یادونې وړ ده چې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په پلان کې لري، چې د هېواد په لویو ټرانزیټي لارو کې نورې برېښنايي دروازې هم جوړې کړي، چې د تطبیق چارې به یې په لنډ وخت کې پیل شي. دا برېښنايي دروازې به د عوایدو راټولولو شفافیت، د ټرانسپورټي وسایطو منظم کنټرول او د لارې د خوندیتوب په برخه کې مهم رول ولوبوي.

له بلې خوا د پروژو د کیفیت او سم تطبیق ډاډمنولو په موخه، د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت مالي او اداري معین حافظ صدیق الله عابد او ورسره مل پلاوي د کابل ولایت په ختیځ څرخي پُل سیمه کې د برېښنايي دروازې(ټولګېټ) او ختیځ مسافروړونکي ترمینل د پروژو له روانو چارو لیدنه او څارنه وکړه. په دې څارنه کې د پروژو د پلان او قرارداد سره سم د کارونو پر مخ بیولو او د لوړ کیفیت د تأمین په اړه جدي ټینګار وشو.

ټاکل شوې ده دا پروژې چې د هېواد د ټرانسپورټي شبکې د اساسي زېربناوو برخه جوړوي، د مسافرو او ټرانزیټي وسایطو لپاره لا ډېرې اسانتیاوې برابرې کړي او د ټرانسپورټي خدمتونو په تنظیم او پراختیا کې بنسټیز بدلونونه رامنځته کړي.



# په هېواد کې د ټرانسپورټي نظم پراخېدل

ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په بېلابېلو ولايتونو کې د ترمينلونو جوړولو، د ټرانسپورټي خدماتو د تنظيم او د نوې ټکنالوژۍ د پلي کولو له لارې، د هېواد د ټرانسپورټي نظم د معياري کېدو پر لور عملي ګامونه پورته کړي دي.

**په کابل کې د ښاري نظم په موخه ۲۱ ترمينلونه او هډې**

د ښاري ټرانسپورټ د نظم ټينګښت په موخه ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په کابل ښار کې د ۲۱ ښاري هډو او ټرانسپورټي ترمينلونو د جوړولو پلان لري. د دې پلان له مخې د ۱۱ تاسيساتي پروژو د پيل لپاره د ځمکو د تصفيې چارې د کمپنۍ، دشت برچي، قمبر څلورلارې، د ميرويس ميدان لومړۍ او دويمه ساحه، د سرای شمالي لومړۍ او دويمه ساحه، پنځه‌سوه فاميلي، پروژه جديد، شهيد څلورلارې هنګرا او د پلچرخي په سيمو کې پيل شوې دي. دا ترمينلونه به د کابل ښاري ترانسپورټ منظم او په چارو کې به روڼتيا او اسانتيا رامنځته کړي او د دې تر څنګ په پلازمېنه کابل کې د ۶۴ ترمينلونه تثبيت شوي دي، چې اوس مهال يې د ځمکې تصفيې بهير روان دی.

### د کندهار ولایت دامان ولسوالۍ کې لوی ټرانسپورټي ترمینل

د کندهار ولایت دامان ولسوالۍ کې پر ۵۸۲ جریبه ځمکه د څه باندې ۵۰۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د باروړونکي ترمینل د جوړولو چارې پیل شوې دي. دا ستره پروژه د عامه او خصوصي مشارکت له لارې پلې کېږي او تمه ده د درې کلونو په موده کې بشپړه شي. په دې ترمینل کې د ودانۍ ترڅنګ د باروړونکو موټرو لپاره تمځایونه، سړکونه، د برېښنا او اوبو رسولو شبکې، د ټرانسپورټي شرکتونو دفترونه، د سوداګریزو مالونو ځانګړي مرکزونه، د اوروژنې وسایطو او کارکوونکو لپاره ودانۍ او ځینې نور تاسیسات شامل دي.

### د فاریاب ولایت په میمنې ښار کې د باروړلو منظم پیل

د فاریاب ولایت واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست د باروړلو خدماتو د اسانتیا او نظم لپاره په میمنه ښار کې د یوه ترمینل له لارې د ټرانسپورټي خدماتو وړاندې کول پیل کړي دي. په یاد ترمینل کې د باروړونکو وسایطو چلوونکو ته لازمې اسانتیاوې برابرې شوې، تر څو د سوداګرو مالونه په منظم، خوندي او اسانه ډول ولېږدول شي. دا اقدام د سیمه‌ییزې سوداګرۍ د چټکتیا او د ټرانسپورټي ګډوډۍ د کمولو په برخه کې مهم بلل کېږي.

### د کابل–پنجشېر پر مسیر د دوو ټرانسپورټي شرکتونو فعالیت

د پنجشېر ولایت واټ ترانسپورت تنظیم امریت له خوا د ټرانسپورټي شرکتونو د استازو په ګډون، د پنجشېر–کابل پر مسیر د مسافروړونکو وسایطو په هډه کې د دوو ټرانسپورټي شرکتونو فعالیت پیل شوی دی. دا اقدام د دې سبب ګرځي چې د یاد مسیر مسافر له منظم، خوندي او باوري ټرانسپورټي خدماتو برخمن شي.

### د جي پي اېس دستګاوو د نصب تړون

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د واټ ترانسپورت معین الحاج ملا عبدالسلام حیدري په مشرۍ له شپږو شرکتونو سره د مسافروړونکو او باروړونکو وسایطو لپاره د GPS دستګاوو د نصب تړون لاسلیک شو. د دې هوکړې له مخې به یاد شرکتونه په ټول هېواد کې وسایطو ته یادې دستګاوې نصب او لازمې اسانتیاوې به برابرې کړي، چې دا کار به د وسایطو د معیاري کولو، ښه مدیریت او د ټرانسپورټي نظم په ټینګښت کې اساسي رول ولوبوي.

باید یادونه وشي، چې تر دې مهاله په ټول هېواد کې تر ۲۰ زرو ډېرې د جي پي اېس آلې لګېدلې دي او دا پروسه لا دوام لري، چې په دې سره به سرعت کنټرول او ترافیکي پېښې به ورسره کمې شي.

## مولوي فیض‌الله جمال د هوايي چلند د پلټنې،

## خوندیتوب او پالیسۍ مرستیال وټاکل شو

د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله تعالی) د حکم پر اساس مولوي فیض‌الله جمال د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د «هوايي چلند د پلټنې، خوندیتوب او پالیسۍ» مرستیال وټاکل شو.

نوموړی د ۱۴۰۴ل کال د تلې/میزان میاشتې د دوشنبې په ورځ د یوې رسمي غونډې په ترڅ کې، چې د اسلامي امارت او ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت یو شمېر لوړپوړو مسئولینو پکې ګډون درلود، د یاد وزارت کارکوونکو ته په رسمي ډول وروپېژندل شو. په دغه غونډه کې د وزارت مشرتابه د نوموړي ټاکنه د هوايي چلند د چارو د لا پیاوړتیا، خوندیتوب او اغېزمنو پالیسیو د پلي کېدو په برخه کې یو مهم ګام وباله.





تله/میزان میاشت



لړم/عقرب میاشت



لیندۍ/قوس میاشت

# د درېیو میاشتو په موده کې

## د ځینو ترسره شویو غونډو، لیدنو او کړنو لنډ خبرونه

# تله/میزان میاشت

- په کندوز کې د موټرچلوونکو د فزيکي او ذهني روغتيا د تضمين لپاره د روغتيايي کارتونو وېش پيل شو.
- په نيمروز ولايت کې د واټ ټرانسپورټ تنظيم رياست له‌خوا د ټرانسپورټي اصولو او چارو په اړه يو ورځنی ښوونيز سمينار ترسره شو.
- رياست تنظيم ترانسپورت جاده‌ای ولايت پکتيا خدمات ترانسپورتی را در تمام هده‌ها و ترمينل‌ها از ۱۲ ساعت به ۲۴ ساعت افزايش داده تا مسافران بتوانند در هر زمان سفر کنند.
- د کابل واټ ټرانسپورټ رياست په درېيو مياشتو کې د ۱۱ زرو موټرو تخنيکي ارزونه کړې او له هغو څخه څه باندې ۱۰ زره يې ثبت کړي دي.
- مسئولان رياست تنظيم ترانسپورت جاده‌ای بلخ در ترمينل مزارشريف از تطبيق لايحه کرايه نظارت کرده و به رانندگان هدايت دادند، اصول ترانسپورتی را رعايت کنند.
- رياست تنظيم ترانسپورت جاده‌ای کابل فعاليت ترمينل مسير باميان، دايکندی، غور، غزنی و ميدان وردگ را منظم کرده تا خدمات ۲۴ ساعته و معياری به مسافران ارائه شود.
- کندوز ولايت کې شاوخوا ۳ زره مسافروړونکي موټر پر ۲۰ مسيرونو فعاليت لري او د واټ ټرانسپورټ تنظيم رياست
- له لوري د ۴ هډو او ۷ کنټرولي بندرونو له لارې ۲۴ ساعته خدمتونه وړاندې کېږي.
- په ننگرهار ولايت کې د واټ ټرانسپورټ تنظيم رياست له کارکوونکو سره د ټرانسپورټي چارو د ښه‌والي او خدمتونو د لوړولو په موخه ناسته وشوه.
- د هرات واټ ټرانسپورټ تنظيم رياست د موټرو رنگول او د اصولو پلي کولو له لارې د معياري خدمتونو لړۍ پراخه کړې ده.
- په بدخشان ولايت کې د ۷ هډو او درېيو کنټرولي بندرونو له لارې ۲۴ خدمتونه وړاندې کېږي او دا مهال ترې څه باندې ۲ زره مسافروړونکي موټر په شاوخوا ۲۲ بېلا بېلو مسيرونو فعاليت کوي.
- په بدخشان کې د ۶۰ ميليونه افغانيو په لگښت د ترمينل او اداري ودانۍ د جوړېدو پروژه ۳۰سلنه پر مخ تللې ده.
- د کندوز واټ ټرانسپورټ تنظيم رياست درې پوړيزه اداري ودانۍ د ۱۲ ميليونه افغانيو په لگښت بشپړه شوه.
- د لغمان ولايت واټ ټرانسپورټ تنظيم رياست له شرکتونو سره د چارو د ښه تنظيم او اصولو د پلي کولو په اړه ناسته وکړه.
- په هلمند ولايت کې د لښکرگاه عمري ترمينل ۲۴ ساعته فعاليت کوي او د مسافرو لپاره لازمې اسانتياوې لري.
- په هلمند کې د ۱۲ ميليونه افغانيو په ارزښت درې پوړيزه اداري ودانۍ ۶۰ سلنه بشپړه شوې ده.
- د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د TIR سيستم د اغېزمن پلي کولو په اړه له بېلابېلو وزارتونو سره ناسته وکړه.
- د هلمند ولايت په گريشک او نورو ولسواليو کې د معياري ټکسي خدمتونه پيل شوي دي.
- په نيمروز ولايت کې د زرنج ترمينل ټرانسپورټي خدمتونه ۲۴ ساعته شوي دي، چې د مسافرو ته يې اسانتياوې برابرې کړې دي.
- د احمدشاه بابا نړيوال هوايي ډگر د جيولېټ رمپ او کانالونو پروژه ۹۸ سلنه بشپړه شوې ده.
- په فراه ولايت کې د ترمينل ټرانسپورټي خدمتونه ۲۴ ساعته شوي او خلکو ته اسانتياوې برابر شوې دي.
- په نيمروز ولايت کې د باروړونکي ترمينل له لارې هره ورځ شاوخوا ۱۵۰ موټر د سوداگرو توکي لېږدوي.

# لړم/عقرب میاشت

- ریاست تنظیم ترانسپورت هلمند خدمات ترمینل باربری را به‌صورت ۲۴ ساعته بهبود داده و روزانه بیش از ۱۲۰ واسطه به‌طور منظم برای بارگیری اموال تاجران معرفی می‌شوند.
- په ننګرهار کې د واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست په یوه غونډه کې کارکوونکو ته د برېښنايي سیستمونو پلي کولو او معیاري خدمتونو لپاره لارښوونې وشوې.
- کارهای اعمار ترمینل مسافربری و ترانزیتی ملی و بین‌المللی ولسوالی گذره هرات در مساحت یک هزار جریب زمین به‌گونه معیاری جریان دارد که فاز نخست آن ۹۰ درصد تکمیل شده است.
- مسئولان ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای فراه با شرکت‌های باربری درباره بهبود فعالیت‌ها، تطبیق روند نوبت و انتقال مصؤن اموال تاجران نشست برگزار کردند.
- ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای هلمند از طریق هفت هده و ترمینل، در شهر لشکرگاه خدمات منظم ترانسپورتی ارائه می کند که باعث رضایت مردم شده است.
- په هرات کې د باروړونکو شرکتونو غونډه کې د خدمتونو د معیاري کولو او شفافیت لپاره لارښوونې وشوې.
- رئیس تنظیم ترانسپورت جاده‌ای لغمان برای ایجاد نظم ترانسپورتی در شهر مهترلام با ادارات مسئول درباره تنظیم وسایط و تطبیق اصول ترانسپورتی نشست برگزار کرد.
- در ترمینل باربری بین‌الولایتی فراه روزانه حدود ۳۰۰ واسطه از طریق روند نوبت برای انتقال اموال تاجران معرفی می‌شوند.
- په پکتیا کې د ټرانسپورټي شرکتونو سره په ناسته کې د وسایطو معیاري فعالیت او د اصولو پلي کولو سپارښتنې وشوې.
- د فاریاب په دولت اباد او اندخوی کې د سوداګریزو توکو منظم او خوندي لېږد لپاره معیاري ټرانسپورټي خدمتونه روان دي.
- په هرات کې د ټرانزیټي او باروړونکو شرکتونو غونډه کې د همغږۍ، شفافیت او خدمتونو د معیاري کولو لارښوونې وشوې.
- مسئولان ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای بلخ با نمایندگان شرکت‌های تکسی‌رانی درباره تطبیق اصول ترانسپورتی و ارائه خدمات معیاری به مسافران نشست برگزار کردند.
- کارهای اعمار ترمینل باربری بین‌الولایتی گذره هرات بیش از ۵۰ درصد پیشرفت داشته و با هزینه بیش از ۲۰۰ میلیون افغانی در حال ساخت‌وساز است.
- د هرات له شمالي ټرانسپورټي هډو څخه فاریاب، بلخ، جوزجان او نورو ولایتونو ته منظم او معیاري مسافر وړونکي خدمات وړاندې کېږي.
- ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای هرات از طریق هده‌های تورغوندی و اسلام‌قلعه به‌گونه منظم و ۲۴ ساعته خدمات ترانسپورتی ارائه می‌کند که مسافران از آن رضایت دارند.
- معین ترانسپورت جاده‌ای و رئیس عمومی پلان و توسعه زیربناها وزارت ترانسپورت و هوانوردی از کار اعمار ترمینل مسافربری
- دامان کندهار بازدید کرده و برای تکمیل با کیفیت آن هدایات لازم دادند.
- در ترمینل باربری بین‌الولایتی گذره هرات خدمات ۲۴ ساعته فراهم شده و اموال تاجران از طریق روند نوبت به‌گونه شفاف انتقال داده می‌شود.
- رئیس عمومی پلان‌گذاری از پروژه ترمیم خط پرواز، فنس احاطوی و اعمار ترمینل میدان هوایی بُست هلمند بازدید و نظارت نمود.
- د کندهار باغ پُل مسافر وړونکي ترمینل کارونه وڅارل شول او قراردادي شرکت ته د چټک او باکیفیته کار سپارښتنې وشوې.
- په نیمروز زرنج کې د لویو مسافر وړونکو وسایطو کرایې وڅارل شوې او موټرچلوونکو ته د خوندي سفر سپارښتنې وشوې.
- رئیس عمومی پلان و توسعه زیربناها از پروژه ترمینل مسافربری بین‌المللی گذره هرات بازدید کرد که این پروژه به هزینه حدود ۱.۴ میلیارد افغانی ۳۰ درصد پیشرفت دارد.
- په هرات کې د ټرانسپورټي هډو او ترمینلونو د چارو د لا تنظیم او معیاري خدمتونو لپاره د کارکوونکو غونډه وشوه.
- له ۲۵۰ کسانو ډله‌ییزه ازموینه واخېستل شوه او بریالي کسان به په درېیم، څلورم او پنځم رتبه بستونو وګمارل شي.

- د GPS شرکتونو په ناسته کې د وسایطو د GPS نصب چټکتیا او د توافقنامې د سم پلي کولو لپاره لاربښوونې وشوې.
- کارهای اعمار تیرپارک با سهولت‌های ترانسپورتی در دشت آبدان کندز در مساحت ۴۰۰ جریب زمین به هزینه ۲۸ میلیون افغانی جریان دارد.
- په کندهار میوند ولسوالۍ کې د ۱۴ میلیونه افغانیو په لګښت د ۲۰۰ جریبه ځمکې تیرپارک جوړېدو چارې په چټکۍ روانې او له چارو یې دوامداره څارنه کېږي.
- په زابل کې د مسافروړونکي ترمینل او اداري ودانۍ پروژه ۶۵ سلنه مخته تللې، چې په بشپړېدو سره به د ټرانسپورټي خدماتو د ښه کېدو لامل به شي.
- د زابل قلات کې د ۱۲ میلیونه افغانیو په لګښت د ۸۰ جریبه ځمکې تیرپارک پروژه روانه او چارې یې ۲۵ سلنه بشپړ شوې دي.
- ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای فراه، برای بهبود خدمات ترانسپورتی با نمایندگان شرکت‌ها، رانندگان و تاجران نشست برگزار کرد و بر رعایت اصول و ارائه خدمات معیاری تأکید نمود.

# لیندۍ/قوس میاشت:

- ریاست خدمات تخنیکی و مصؤنیت برای کارمندان آمریت تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت لوگر درباره بررسی تخنیکی وسایط ترانسپورتی و نظارت از فعالیت هده‌ها و ترمینل‌ها سمینار ارائه کرد.
- د پکتیا ولایت واټ ټرانسپورټ تنظیم رئیس په مشرۍ له اړوندو کارکوونکو سره ناسته وشوه، چې پکې د ټرانسپورټي چارو تنظیم، اصولو پلي کول او خلکو ته د معیاري خدماتو پر ښه همغږۍ ټینګار وشو.
- د واټ ټرانسپورټ معین الحاج ملا عبدالسلام حیدري په مشرۍ د ځمکني ټرانسپورټ انلاین سیستم په اړه په یوه ناسته کې د یاد سیستم په سم پلي کېدو، کارولو او اړینو اصلاحاتو خبرې وشوې.
- په سمنګان ولایت کې د مسافرو د خوندیتوب او د وسایطو د معیاري کولو لپاره په هډو او ترمینلونو کې د موټرو تخنیکي کنټرول بهیر په پرله‌پسې ډول روان او ګټورې پایلې لري.
- د اروزګان ولایت د واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست د اروزګان–کندهار مسیر موټرونه له ټرانسپورټي اصولو سره برابر او اوسېدونکو ته یې منظم او معیاري خدمتونه چمتو کړي دي.
- د کندوز ولایت د واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست د امام صاحب ولسوالۍ په ترمینلونو کې د موټرو تخنیکي ارزونه ترسره کړه او موټرچلوونکو ته د معیاري کولو او اصولو د پلي کېدو سپارښتنې وشوې.
- د کندهار ولایت د دامان ولسوالۍ د باروړونکي ترمینل د جوړېدو چارې په چټکۍ روانې دي، چې د ۵۰۲ میلیونه افغانیو په لګښت به په دریيو کلونو کې بشپړې شي.
- پروژه اعمار سالون انتظارگاه و توقف‌گاه وسایط میدان هوایی بین‌المللی مولانا جلال‌الدین محمد بلخی در بلخ، با هزینه ۸۸ میلیون افغانی، ۱۵ درصد پیشرفت داشته و به‌سرعت جریان دارد.
- پروژه اعمار یک تیرپارک در ولسوالی چهاردره ولایت کندز به هزینه ۲۸ میلیون افغانی، ۱۰ درصد پیشرفت کاری داشته و به گونه سریع در حال تطبیق است.
- کار اعمار دیوار احاطوی ترمینل باربری سنجددره ولایت پروان با هزینه ۸ میلیون و ۸۷۸ هزار افغانی از سوی وزارت ترانسپورت و هوانوردی به‌صورت منظم جریان دارد.
- ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای هلمند برای تأمین نظم ترانسپورتی یک تیم ۲۴ ساعته نظارتی ایجاد کرده و به‌طور منظم از فعالیت‌ها بازدید می‌کند.
- کار اعمار تیرپارک آقینه در ولایت فاریاب با هزینه بیش از ۱۱۰ میلیون افغانی ۲۷ درصد پیشرفت داشته و به‌سرعت جریان دارد.
- ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای فاریاب در هده قیصار– مزارشریف به‌طور منظم به مسافران خدمات ارائه کرده و تنها وسایط معیاری اجازه فعالیت دارند.



# د هېواد په شمال کې

## د ابادۍ نوی څرک

که د هېواد هره برخه پرمختګ کوي، هېواد او هېوادوالو ته ښېرازي ور په برخه کېږي او هره ابادي د وګړو د ژوند ښه کولو لپاره د سوکالۍ او ثبات نښه ده. په کوم هېواد کې چې د ابادۍ فکر موجود وي، هره ورځ به د پرمختګ په لور ګامونه پورته کېږي.



ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د ځمکني او هوايي ټرانسپورټ په برخه کې د پرمختګ او هېواد والو ته د ښه راتلونکي برابرولو لپاره پراخه هڅې پیل کړې دي، د دغو هڅو په لړ کې یو هم د هېواد په کچه د لویو ټرانسپورټي زېربنایي پروژو پلي کول دي، چې د هېواد اقتصادي ودې او ټولنیز پرمختګ ته یې نوې لارې او فرصتونه برابر کړي دي.

تر دې مهاله په بېلابېلو ولایتونو کې د ټرانسپورټي ترمینلونو، اداري ودانیو او تیرپارکونو بېلابېلې پروژې پلي شوې دي له دغو پروژو څخه ۲۱پروژې یوازې د هېواد په شمال زون کې پلي شوي دي، چې ځینې یې بشپړې او ځینې یې لا هم تر کار لاندې دي.

په بشپړ شویو پروژو کې د بلخ، فاریاب، جوزجان او سرپل ولایتونو کې د ځمکني ټرانسپورټ تنظیم ریاستونو او امریتونو لپاره اداري ودانۍ ، د بغلان ولایت، دوشي ولسوالۍ کیله‌ګي سیمه کې د څه کم ۹ میلیونه افغانیو په لګښت د تیرپارک چاپېربدونکی دېوال او شبرخان بندر کې د باروړونکي ترمنیل پروژې شاملې دي.

**تر کار لاندې پروژې په لاندې ډول یادولای شو:**

- په بغلان ولایت کې د څه کم ۳۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د ټرانسپورټي تاسیساتو جوړولو یوه لویه پروژه د پلي کېدو په حال کې ده، چې د یاد ولایت واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست لپاره اداري ودانۍ، د مسافروړونکو او باروړونکو موټرو معیاري ترمینل او ځینې نور تاسیسات پکې شامل دی.
  د یادې پروژې چارې د روان ۱۴۰۴ کال په د وري/حمل میاشت کې پیل شوي او ښایي د همدې کال ترپایه یې چارې بشپړې شي. په یاده پروژه سربېره د بغلان ولایت دوشي ولسوالۍ کیله‌ګي سیمه کې د څه کم ۹ میلیونه افغانیو په لګښت، په څه باندې ۷۱ جریبه ځمکه باندې د تیرپارک چاپېربدونکي دېوال جوړولو چارې هم بشپړې شوې، تمه ده د یاد تیر پارک او نورو تاسیساتو جوړولو چارې هم په نږدې راتلونکي کې پیل شي.



- سمنګان ولایت مرکز ایبک ښار کې د څه کم ۲۹ میلیونه افغانیو په ارزښت د یو عصري مسافروړونکي ترمینل پروژه د یادولو وړ ده، چې چارې یې بشپړې دي او په نږدې راتلونکي کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. ، دغه پروژه چې په ۹ جریبه ځمکه کې پلې کېږي جومات، د مسافرو لپاره انتظار ځای، چاپېریدونکی دېوال، د موټرو لپاره منظم پارکینګ او ځینې نور خدماتي تاسیسات پکې شامل دي، دغه ترمینل د سفر کولو او نورو اسانتیاوو او د ټرانسپورټي چارو لا پرمختګ په برخه کې د سمنګان ولایت اوسېدونکو ته پوره کېدونکې هیله ده.

- د سمنګان ولایت تاشقرغان، د کندوز ولایت دښتِ ابدان او چهار درې او د فاریاب ولایت دولتاباد ولسوالیو کې د څه کم ۶۰ میلیونه افغانیو په ارزښت د تیر پارکونو جوړولو پروژې د یادولو دي، چې چارې یې تازه پیل شوې دي.

- د بلخ ولایت حیرتان دوراهي باروړونکي ترمینل کې د څه باندې ۴۶ میلیونه په ارزښت د ۶زره، ۱۶۲ مترو په اوږدوالي چاپېرېدونکی دېوال، جومات او ځینې نورو تاسیساتو جوړولو پروژه چې چارې یې په بشپړېدو دي. همدا ډول په یاده پروژه سربېره حیرتان دوراهي ترمینل کې د څه باندې ۷۷۰ میلیونه افغانیو په ارزښت یوه بله لویه پروژه هم د پلي کېدو په حال کې ده، چې په دې کې د ترمینل اصلي ودانۍ ، د باروړونکو موټرو لپاره پارکینګ، سړکونه، د برېښنا او اوبو رسولو شبکې، د ټرانسپورټي شرکتونو لپاره دفترونه، د سوداګریزو مالونو، دبارولو او کښته کولو مرکزونه، د اور وژنې وسایطو او کارکوونکو لپاره ودانۍ او ځینې نور تاسیسات شامل دي.

- د بلخ ولایت حیرتان دوراهي باروړونکي ترمینل کې د څه باندې ۴۶ میلیونه په ارزښت د ۶زره، ۱۶۲ مترو په اوږدوالي چاپېرېدونکی دېوال، جومات او ځینې نورو تاسیساتو جوړولو پروژه چې چارې یې په بشپړېدو دي. همدا ډول په یاده پروژه سربېره حیرتان دوراهي ترمینل کې د څه باندې ۷۷۰ میلیونه افغانیو په ارزښت یوه بله لویه پروژه هم د پلي کېدو په حال کې ده، چې په دې کې د ترمینل اصلي ودانۍ ، د باروړونکو موټرو لپاره پارکینګ، سړکونه، د برېښنا او اوبو رسولو شبکې، د ټرانسپورټي شرکتونو لپاره دفترونه، د سوداګریزو مالونو، دبارولو او کښته کولو مرکزونه، د اور وژنې وسایطو او کارکوونکو لپاره ودانۍ او ځینې نور تاسیسات شامل دي.



- همدا ډول د څه کم ۱۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د کندوز ولایت واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست لپاره د اداري ودانۍ جوړولو چارې په چټکۍ سره روانې دي، په یاده پروژه کې درې پوړیزه اداري ودانۍ، د اوبو رسولو سیستم او ۱۷۲ مترو په اوږدوالي چاپېربېدونکی دېوال شامل دي، دا مهال د یادې پروژې چارې بشپړېدو ته ته نږدې شوې دي او په بشپړېدو سره به اداري کارکوونکو ته ښه کاري ماحول برابر شي.
- د بلخ ولایت مولانا جلال الدین محمد بلخي نړیوال هوایي ډګر کې د۸۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د مسافرو لپاره د انتظارځای او موټرو لپاره د تم ځای جوړولو پروژه.
- د فاریاب ولایت اقینې بندر کې د ۱۱۰ میلیونه افغانیو په ارزښت د تیرپارک جوړولو پروژه.
- په بدخشان ولایت کې د څه باندې ۶۰ میلیونه افغانیو په ارزښت د ټرانسپورټي تاسیساتو ودانۍ جوړولو پروژه، چې د مسافروړونکو او باروړونکو موټرو لپاره معیاري ترمینل، د یاد ولایت واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست لپاره اداري ودانۍ، د ۴۵۰ مترو په اوږدوالي چاپېربېدونکی دېوال او ځینې نور تاسیسات پکې شامل دي. همدا ډول د څه باندې۲۶ میلیونه افغانیو په ارزښت د فیض‌اباد هوایي ډګر چاپېربېدونکي دېوال پروژه چې چارې یې اوس مهال پیل شوې دي .

دیادو پروژو پلی کول نه یوازې دا چې د ټرانسپورټي خدمتونو معیاري کېدو، چټکتیا، کیفیت لوړولو او هېوادوالو ته د تګ راتګ د اسانتیاوو رامنځته کولو لپاره مهم دي؛ بلکې د هېواد اقتصادي ودې، پانګونې، کارموندنې او سیمه‌ییز پرمختګ لپاره به هم لویه ونډه ولري.

د دغه پروژو په بشپړېدو سره به د هېواد ټرانسپورټي سیستم پرمختګ کې یو نوی بدلون رامنځته شي، چې دا به د افغانستان په ټرانسپورټي زیربناوو کې یو تاریخي او بنسټیز پرمختګ وي. په ټولېزه توګه ویلای شو چې د دغه پروژو بشپړېدل به د ټرانسپورټي خدماتو کیفیت لوړولو او د ټرانسپورټي چارو پرمختګ او چټکتیا ته نوې لارې پرانیزي او دا پراختیایي پروژې د هېواد اقتصادي او ټولنیز پرمختګ لپاره یو ښه ګام بلل کېږي.

ترتیب کوونکی: عبدالحلیم حلیمي




# په هانګ کانګ کې د کارګو الوتکې
# مرګونې پېښه

د هانګ کانګ په نړیوال هوایي ډګر کې د یوې باروړونکې الوتکې د ناستې پر مهال د ځغاستلیکې څخه د وتلو او سمندر ته د لوېدو له امله دوه د ځمکنیو خدمتونو کارکوونکي وژل شوي دي. دا پېښه د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر میاشتې په ۲۰مه نېټه دوشنبې په سهار هغه مهال رامنځته شوه، چې د ترکیې د ACT Airlines اړوند بوینګ ۷۴۷ الوتکه، چې د اماراتو له لوري کرایه شوې وه، له دوبۍ څخه هانګ کانګ ته روانه وه. د راپورونو له مخې الوتکه د ناستې پر مهال خپل توازن له لاسه ورکړ، له ځغاستلیکې واوښته او سمندر ته ولوېده، چې له امله یې الوتکه په دوو برخو ووېشل شوه. د الوتکې څلور عمله ژغورل شوي او روغتون ته لېږدول شوي دي او ویل کېږي چې الوتکه د پېښې پر مهال له توکو خالي وه. دا پېښه د تېرو ۲۵ کلونو په ترځ کې د هانګ کانګ د هوایي ډګر له سترو پېښو څخه ګڼل کېږي.

# په امریکا کې
# د یوې باروړونکې الوتکې نسکورېدل

د ۱۴۰۴ لمریز کال د لړم ۱۳مه نېټه د امریکا متحده ایالاتو د کینټکي ایالت په لویسویل ښار کې د UPS (United Parcel Service) د یوې بار وړونکې الوتکې د سقوط له امله مرګ‌ژوبله رامنځته شوه، یوه درنه هوایي پېښه رامنځته شوه. په دې پېښه کې د یادې الوتکې درې واړه د عملې غړي ووژل شول او ۱۲ تنه نور چې د پېښې په سیمه کې پر ځمکه موجود وو، خپل ژوند له لاسه ورکړ. یاده الوتکه د د لویزیوبل له محمد علي نړیوال هوایي ډګرڅخه د هونولولو پر لور الوتنه کوله، لږ وخت وروسته یې د وزر پر سر اور ولګېد او نسکوره شوه. د لومړنیو معلوماتو له مخې، د پورته کېدو پر مهال د الوتکې چپ اړخ انجن او اړوند برخه له وزر څخه بېله شوې وه چې له امله یې الوتکه ونه توانېده چې لازمه ارتفاع واخلي او په شاوخوا ساحه کې د سخت اور سره ولوېده. چارواکو د خوندیتوب په موخه د پېښې له ځایه نږدې اوسېدونکو ته امر وکړ چې په خپلو کورونو کې پاتې شي او د هوایي ډګر عملیات لنډ مهال ودرول شول. د امریکا د ملي ټرانسپورټ خوندیتوب بورډ (NTSB) او فدرالي هوایي اداري (FAA) د پېښې د دقیق علت د معلومولو لپاره پراخې څېړنې پیل کړې او دا پېښه د UPS د تاریخ له تر ټولو خونړیو هوایي پېښو څخه بلل کېږي چې د نړیوال هوایي خوندیتوب په برخه کې یې جدي اندېښنې راولاړې کړې دي.




# ایربس د شاوخوا شپږ زرو الوتکو

## د بېړني سمون اعلان وکړ

اروپايي هوايي شرکت ایربس اعلان کړی، چې د خپلو شاوخوا شپږ زرو الوتکو د کنټرول سیستمونو کې يې یوه جدي تخنیکي نیمګړتیا موندلې ده. د دې شرکت په وینا، د لمر شدیده رڼا کولی شي د الوتنې د کنټرول لپاره حیاتي معلومات ګډوډ کړي، چې دا چاره د الوتنو خوندیتوب ته جدي ګواښ پېښوي. له همدې امله ایربس د دغو الوتکو د سملاسي تخنیکي سمون امر صادر کړی دی. شاوخوا شپږ زره الوتکې، چې د ایربس د نړیوالو فعالو الوتکو نږدې نیمايي جوړوي، له دې نیمګړتیا اغېزمنې شوې دي. د راپورونو له مخې تر پنځه زرو زیاتې الوتکې یوازې د سافټویر تازه کولو ته اړتیا لري، چې نصبول يې شاوخوا درې ساعته وخت نیسي؛ خو پاتې الوتکې باید د ستونزې تر بشپړ حل پورې له الوتنو وایستل شي. د معلوماتو له مخې د نږدې ۹۰۰ الوتکو کمپیوټرونه باید بدل شي او تر هغې به د مسافرو د لېږد اجازه ونه لري. دې بېړني اقدام د نړۍ په بېلابېلو هوايي شرکتونو د فعالیتونو پر مهالویش اغېز کړی او د ځینو الوتنو د لغوه کېدو لامل ګرځېدلی دی.
د بریتانیا د هوايي چلند ادارې ویلي، چې د نویو تخنیکي بدلونونو پلي کېدل ښايي د ځینو الوتنو د لغوه کېدو سبب شي. همداراز د کولمبیا هوايي شرکت اویانکا اعلان کړی، چې دې نیمګړتیا د دوی د الوتکو نږدې دوه پر درییمه برخه اغېزمنه کړې ده. د دې تر څنګ، ایزي جېټ، امریکن ایرلاینز، دلتا ایرلاینز، ویز ایر او ایر نیوزیلنډ هوايي شرکتونو هم د خپلو الوتنو د احتمالي ګډوډۍ په اړه خبرداری ورکړی دی. ایربس ویلي دي، چې دا تخنیکي ستونزه د ۲۰۲۵ز کال د اکتوبر په میاشت کې په امریکا کې د یوې پېښې وروسته وموندل شوه، چې د A۳۲۰ کورنۍ یوه الوتکه پکې شامله وه. د یادې پېښې پر مهال د الوتکې د کنټرول ناڅاپي ګډوډۍ له امله الوتکه بې خبره ښکته شوې وه، چې له کبله يې شاوخوا شل کسان برسېرن ټپيان شوي وو. ایربس د دې پېښې له امله له مسافرو بښنه هم غوښتې ده.
د اروپايي ټولنې د هوايي چلند د خوندیتوب ادارې د لارښوونو له مخې، هغه الوتکې چې له دې نیمګړتیا سره مخ دي، یوازې هغه مهال د مسافرو د لېږد اجازه لري، چې تخنیکي ستونزه يې په بشپړ ډول حل شوې وي.
د یادونې وړ ده، چې د ایربس A۳۲۰ الوتکې د نړۍ په کچه د مسافروړونکو الوتکو له تر ټولو ډېرو کارېدونکو کورنیو څخه دي. دا الوتکې د ۱۲۰ تر ۲۴۴ مسافرو د لېږد ظرفیت لري او تر ۸۷۰۰ کیلومتره پورې د الوتنې توان لري. د دغو الوتکو پرمختللي سیستمونه د تېلو لګښت تر ۲۰ سلنې پورې راکموي او ایربس پلان لري چې تر ۲۰۳۰ کال پورې د دې ټکنالوژۍ کارونه لا پراخ کړي.

# د شاتو څاڅکی



يو څاڅکی شات په خاورو توی شوي وو، يو کوچني ميږي چې وڅکل، نو ډېر خوند يې ورکړ، څو څو ځله يې وڅکل، په خوند يې نه مړيده.
اخر يې زړه کې وويل، چې ولې يې په څنډو کې ګرځم؟ بايد منځ ته يې ورشم، چې ډېر خوندونه ترې واخلم. ميږي همداسې وکړل، د شاتو د څاڅکي منځ ته ورننوت، خو هلته يې پښې بندې شوې، هر څومره هڅه يې چې وکړه، د باندې ترې ونه‌وت او د شاتو په څاڅکي کې مړ شو.
يو استاد چې دا وليد، خپلو شاګردانو ته يې وويل:
د دې دنيا خوندونه هم د شاتو يو لوی څاڅکی وګڼئ، که چېرې اندازه و نه ساتل شي او پکې غرق شوی، بيا به داسې پکې غرق ياست، چې ځان به ترې نشی ويستلی.

## ترانسپورت او هوايي چلند وزارت

د عامه اطلاعاتو او نشراتو رياست

# ترانسپورت او هوايي چلند

مجله

علمي • معلوماتي • فرهنگي

